ژباړه: نو هماغه خلک چې ایمان یې راوړی او خپل ایمان یې له ظلم (شرک) سره نه وي ګډ کړی د همدوی لپاره امنیت دی او همدوی په سمه لار برابر دي.

نو صحابه کرام ډېر خپه شول او پیغمبر (ﷺ) ته یې عرض وکړ وې ویل: په موږ کې داسې څوک شته چې ظلم یې نه وي کړی؟

پیغمبر (ﷺ) ورته وفرمایل: تاسو چې له دې آیت نه کوم مطلب اخیستی، هغه دلته نه دی مراد، دلته هغه ظلم مراد دی کوم چې حضرت لقمان حکیم خپل زوی ته ور په ګوته کړی و: يَا بُنَيَّ لَا تُشْرِكْ بِاللَّهِ إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ (لقمان/۱۳)

ژباړه: ای زویه! الله سره څه مه شریکوه یقینا شرک یو ستر ظلم دی په یو بل روایت کې عبد الله (رضي الله عنه) وایي: کله چې دا آیت نازل شو: الَّذِينَ آمَنُواْ وَلَمْ يَلْبِسُواْ إِيمَانَهُم بِظُلْمٍ أُوْلَـئِكَ لَهُمُ الأَمْنُ وَهُم مُّهْتَدُونَ (الانعام/۸۲) پیغمبر (ﷺ) وفرمایل: ماته وویل شول چې ته هم له همدغو کسانو څخه یې.

اصحابو له قرآن کریم سره ژور تړاو درلود، نه یواځې دا چې ایمان یې پرې درلود، بلکې د قرآن کریم ټول حقونه یې پر ځای کړي وو، په خپله به یې د قرآن کریم تلاوت کاوه، په معنی یې ځان پوهاوه، کله چې به په کوم آیت او یا کلمه نه پوهېدل له رسول الله (ﷺ) څخه به یې پوښتنه کوله، د جنت او نعمتونو په وعدو به خوشحالېدل او په کومو آیتونو کې چې به سختی، عذابونه، وعیدونه، زورنې او سزا وې بیانېدلې په هغو به ډېر وېرېدل، د نېکیو سره به یې ډېره مینه وه او له بدیو او ګناهونو څخه یې کرکه درلوده، ځکه چې ایمان یې ژور او ټینګ و او له بدیو څخه یې

راګرځول. صفیه بنت شیبه (رضي الله عنها) وایي: یوه ورځ موږ له حضرت عایشې (رضي الله عنها) سره ناستې وو او د قریشي مېرمنو دغوراوي یادونه مو کوله، نو حضرت عایشې (رضي الله عنها) وویل: رښتیا هم قریشي مېرمنې ډېرې غوره دي؛ خو په خدای قسم! د خدای پاک پر کتاب په ایمان راوړلو اود هغه په لارښوونه په عمل کولو ما له انصاري مېرمنو نه لومړۍ بل څوک نه دي لیدلي، بیا یې وویل: کله چې دا آیت نازل شو: وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيُوبِهِنَّ (النور/۳۱) ژباړه: او په خپلو سینو دې خپل پړوني واچوي نو د انصارو هر سړی به چې کورته لاړ خپلو مېرمنو ته به یې دا آیت واورولو؛ نو هغوی به سمدستي ومانه او په یو نقشدار څادر کې به یې ځان پټ کړ، سهار لمانځه ته چې همدا مېرمنې راغلې داسې یې ځانونه پټ کړي و تا به ویل پر سرونو یې کارغان ناست دي.

مکحول (رح) وایي: یو بوډا سړی چې دواړه وروځې یې په سترګو را پرېوتې وې، پیغمبر (ﷺ) ته راغی او عرض یې وکړ: یارسول الله! که یو څا دومره ډېر بد کارونه کړي وي چې که د ځمکې پر خلکو وویشل شي ټول به هلاک شي، نو ایا د داسې کس لپاره د توبې ځای شته؟ پیغمبر (ﷺ) ورته وفرمایل: ایا ته مسلمان شوی یې؟ هغه وویل: هو! زه مسلمان یم او اشهد ان لااله الا الله و اشهد ان محمد عبده ورسوله کلمه وایم، پیغمبر (ﷺ) ورته وفرمایل: تر څو پورې چې ته همدا کلمه وایې خدای پاک به دې ګناوې ښې او نیکی به درته لیکي، هغه وویل: یارسول الله! زما ټولې بې لوزۍ او ګناوې وبښل شوې؟ پیغمبر (ﷺ) ورته وفرمایل: هو! ټولې بې لوزۍ او ګناوې دې وبښل شوې، په دې خبره بوډا (له ډېرې خوښۍ) الله اکبر لااله الا الله وویل او روان شو.

ابو فروه (رضي الله عنه) وایي: پیغمبر (ﷺ) ته ورغلم پوښتنه مې ترې وکړه چې که یو سړی دومره بد عمله وي چې یوه ګناه یې هم نه وي پرېښې، ایا د داسې کس توبه قبلیږي؟ پیغمبر (ﷺ) راته وفرمایل: ایا ته مسلمان شوی یې؟ ماویل: هو! راته یې وویل: نور نو نیکی کوه او بد کارونه پرېږده! خدای پاک به دې له ټولو بدیو څخه نیکی جوړې کړي، ماوویل: ایا زما ټولې ګناوې به وبښل شي؟ پیغمبر( ﷺ ) وویل: هو! یو راوي وایي: په دې خبره ابو فروه (رضي الله عنه) روان شو او تر څو چې پناه کیدلو ځان سره یې الله اکبر! الله اکبر! ویل.

ابو هریره (رضي الله عنه) وایي: ماته یوه میرمن راغله پوښتنه یې راڅخه وکړه چې: ما زنا کړې وه بیا مې له هغې نه بچی پیدا شو؛ نو هغه مې وواژه، ایا اوس به زما توبه منل کیږي؟ ماورته وویل: نه! خدای دې نه ستا سترګې یخوي او نه دې تا ته عزت او شرافت درکوي! په دې خبره هغه مېرمن ډېره خوا بدې پاڅېده او روانه شوه، سهار چې لمانځه ته راغلم پیغمبر(ﷺ) ته مې دهغې خبره وکړه؛ نو هغه (ﷺ) راته وفرمایل: صحیح خواب دې نه دی ورکړی، ایا تا دا آیاتونه نه دي لوستي؟: وَالَّذِينَ لَا يَدْعُونَ مَعَ اللَّهِ إِلَهًا آخَرَ وَلَا يَقْتُلُونَ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ وَلَا يَزْنُونَ وَمَن يَفْعَلْ ذَلِكَ يَلْقَ أَثَامًا . يُضَاعَفْ لَهُ الْعَذَابُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَيَخْلُدْ فِيهِ مُهَانًا . إِلَّا مَن تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ عَمَلًا صَالِحًا فَأُوْلَئِكَ يُبَدِّلُ اللَّهُ سَيِّئَاتِهِمْ حَسَنَاتٍ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا (الفرقان/۶۸-۷۰)

ژباړه: او هغوی چې الله سره بل خدای نه رابولي او نه پرته له حقه هغه کس وژني چې الله حرام کړی وي او نه زنا کوي، او څوک چې داسې وکړي هغه به خپله ګناه مومي، د هغه د پاره به د قیامت په ورځ عذاب مکرر کړای شي او همېشه به پکې خوار ذلیل پروت وي، پرته له هغه چې توبه وباسي، ایمان راوړي او عمل وکړي، نیک عمل، نو دا خلک چې دي الله به یې بدۍ په نیکیو بدلې کړي او الله بښونکی او مهربان دی.

دی وایي: پیغمبر(ﷺ) چې دا خبره راته وکړه زه راغلم او همدا آیاتونه مې هغې مېرمنې ته واورول؛ نو هغې وویل: ټولې ستاینې هغه الله لره دي چې زما د خلاصون

لاره یې جوړه کړه.
د ابن جریر په روایت کې دي چې هغه مېرمن ډېره پریشانه ولاړه شوه او ویل یې: های افسوس! ایا دا ښایست د دوزخ لپاره پیدا شوی!! بیا چې کله ابوهریره (رضي الله عنه) په دوهم ځل راغی هغه یې ډېره ولټوله خو پیدا یې نه کړه، په سبا هغه بیا راغله نو ابوهریره (رضي الله عنه) ورته د پیغمبر (ﷺ) د خولې ټوله وینا واوروله، هغه سمدستي په سجده پریوته او ویې ویل: ټولې ستاینې هغه ذات لره دي چې زما لپاره یې د خلاصون لاره جوړه کړه، او زما ګناه یې وبښله، له دې وروسته دغې مېرمنې خپله یوه وینځه او د هغې لور ازاده کړه او الله ته یې رښتونې توبه وویسته.
د تمیم داري (رضي الله عنه) غلام ابوالحسن (رح) وایي: کله چې دا آیاتونه نازل شول : وَالشُّعَرَاءُ يَتَّبِعُهُمُ الْغَاوُونَ . أَلَمْ تَرَ أَنَّهُمْ فِي كُلِّ وَادٍ يَهِيمُونَ . وَأَنَّهُمْ يَقُولُونَ مَا لَا يَفْعَلُونَ . الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَذَكَرُوا اللَّهَ كَثِيرًا وَانتَصَرُوا مِن بَعْدِ مَا ظُلِمُوا وَسَيَعْلَمُ الَّذِينَ ظَلَمُوا أَيَّ مُنقَلَبٍ يَنقَلِبُونَ (الشعراء/۲۲۴-۲۲۷)
ژباړه: او په شاعرانو پسې خو (بوازې) بې لارې شوي خلک ځي. ایا تا نه دي لیدلي چې دوی په هر ناو کې لالهانده وي. او هغه څه وایي چې نه یې کوي. له هغو کسانو پرته چې ایمان یې راوړی. سم کاورنه یې کړي. الله یې ډېر یاد کړی او (بوازې) له هغه وروسته یې غچ اخیستی چې ظلم پرې شوی. او چا چې ظلمونه کړي ژر به وپوهیږي چې کوم ځای ته بیرته ور ګرځي. پیغمبر (ﷺ) وفرمایل: همدا (نیک) خوی په تاسو کې دی. (نو دا وعید تاسو مسلمانو شاعرانو ته نه دی متوجه).
عطاء بن سائب (رح) وایي: ما چې لومړی ځل عبدالرحمن بن ابی لیلی (رضي الله عنه) ولید هغه پېښه داوه چې یو بوډا سړی مې ولید چې پر خره سپور دی او په یو جنازې پسې روان دی او څه وایي، ما چې غوږ ورته ونیو ویل یې: فلانی صحابي د فلاني زوی راته ویل چې ما له پیغمبر (ﷺ) نه اوریدلي دي چې: څوک له خدای پاک سره لیدل خوښوي خدای پاک یې هم لیدل خوښوي او څوک چې له خدای پاک سره لیدل نه خوښوي خدای پاک یې هم لیدل نه خوښوي، په دې خبره ټول خلک په ژړا شول، پیغمبر (ﷺ) ورته وویل: ولې ژاړئ؟ صحابه وو وویل: موږ خو ټول مرګ نه خوښوو، پیغمبر (ﷺ) ورته وویل: د دې مطلب دا نه دی؛ بلکې کله چې د انسان مرګ را نږدې شي هغه وخت ترې مراد دی، لکه خدای پاک چې په قرآن کریم کې فرمایي: فَأَمَّا إِن كَانَ مِنَ الْمُقَرَّبِينَ . فَرَوْحٌ وَرَيْحَانٌ وَجَنَّةُ نَعِيمٍ (الواقعه ۸۸-۸۹)
ژباړه: نو بیا که چیرې هغه ذات (الله) ته له نژدې کړی شوو څخه وي، نو هوسایي، ښه روزي او نعمتونو والا جنت دی.
داسې کسانو ته چې کله په دغه وخت کې د جنت زیری واورول شي نو له خدای پاک سره یې دلیدلو ډېره لیوالتیا پیدا شي او خدای پاک د ده لیدلو ته تر ده ډېر لیوال وي، بیا فرمایي: وَأَمَّا إِن كَانَ مِنَ الْمُكَذِّبِينَ الضَّالِّينَ . فَنُزُلٌ مِّنْ حَمِيمٍ . وَتَصْلِيَةُ جَحِيمٍ (الواقعه/۹۲-۹۳)
ژباړه: خو که چیرې له دروغ ګڼونکو لا ر ورکو څخه وي. نو (هغه ته) د خوټیدونکو اوبو میلمستیا ده، او دوزخ ته ورننویستل.
دغه وخت چې داسې کس ته د دوزخ زیری ورکړل شي بیا دی له خدای پاک سره لیدل نه خوښوي او خدای پاک هم د ده لیدل نه غواړي.
عبدالله بن عمرو بن العاص (رضي الله عنه) وایي: کله چې: سورت زلزال نازل شو، ابوبکرصدیق (رضي الله عنه) د پیغمبر (ﷺ) څنګ ته ناست و؛ نو په ژړا شو، پیغمبر (ﷺ) پوښتنه ترې وکړه: ابوبکر! ولې ژاړې؟ هغه ورته وویل: دې سورت په ژړا کړم، پیغمبر (ﷺ) ورته وفرمایل: که تاسو هیڅ بدي او ګناه نه کوی چې بیا مو (د ښښنې له غوښتلو وروسته) خدای پاک

وبښي؛ نو بيا به خدای داسې خلک پيدا کړي چې ګناوې به کوي (بيا به له خدايه بښنه غواړي) او خدای پاک به بښنه ورته کوي.

حضرت عمر (رضي الله عنه) وايي: پيغمبر (ﷺ) راته وفرمايل: عمره ! هلته به دې څه حال وي چې په څلور لوېشتې اوږد او دوه لوېشتې پلن ځای کې يې او نکير او منکر ووينې؟ ماوويل: يارسول الله! نکير اومنکر څوک دي؟ راته يې وفرمايل: دا په قبر کې امتحان اخلي او قبر په خپلو غاښونو را سپړي، دهغوی ويښته به له ډېره اوږدوالي ور پسې څښيږي، غږ به يې د زورور درځهاري په شان وي او سترګې به يې د بريښنا په شان پره کيږي، دومره غټ ګرز به ورسره وي چې که د (منی) ټول خلک راجمع شي هغه به پورته نشي کړای، خو دوی ته به يې پورته کول زما د دې امسا نه هم اسانه وي، دا دواړه به ستانه امتحان اخلي خو که ته په امتحان کې ناکام شوې او ځواب دې سهي ورنکړ؛ نو هغوی به دې په دغه ګرز دومره په زوره وهي چې ته به ټول ايره ايره شې، ما وويل: يا رسول الله! ايا په دغه وخت کې به زه په همداسې حالت (هوش) کې يم؟ راته يې وويل: هو! ما وويل: بيا نو زه ورسره پوهيږم.

په يو بل روايت کې دي چې پيغمبر (ﷺ) بيا وفرمايل: په هغه ذات مې قسم دی چې زه يې په حقه راليږلی يم! ماته جبريل (عليه السلام) وويل: هغوی دواړه به تاته هم راځي او پوښتنه به درڅخه کوي؛ نو ته په ځواب کې ورته ووايه چې زما رب الله دی، بيا ته پوښتنه ترې وکړه چې ستاسو رب څوک دی؟ محمد زما نبي دی او ستاسو نبي څوک دی؟ اسلام زما دين دی او ستاسو دين کوم دی؟ په دې خبره به هغوی وايي : ګوره څومره عجيبه خبره ده ! موږ نه پوهيږو چې موږ تاته راليږل شوي يو او که ته موږ ته راليږل شوی يې.

ابو بحريه کندي (رح) وايي: يو ځل حضرت عمر (رضي الله عنه) له کوره را ووت چې ويې کتل يو څو کسان ناست دي او ورسره حضرت عثمان (رضي الله عنه) هم دی، حضرت عمر (رضي الله عنه) ناستو خلکو ته وويل: له تاسو سره يو داسې کس ناست دی چې که د هغه ايمان پرېو لوی لښکر وويشل شي، ټولو ته به بس شي، د نوموړي له دې خبرې څخه موخه حضرت عثمان (رضي الله عنه) و.

(أخرجه احمد و رواه مسلم مثله).

(عند احمد ايضاً).

(عند احمد ايضاً من طريق سعيد بن جبير عن ابن عباس مختصراً و أخرجه مسلم نحوه و ابن جرير من طرق اخرى عن ابن عباس و هذه طرق صحيحه عن ابن عباس كما في التفسير لابن كثير ج۳۳۸/۱).

(أخرجه ابن ابی حاتم و رواه البخاری).

(عند ابن مردوديه كذا في التفسير لابن كثير ۱۵۳/۲).

(أخرجه ابن ابی حاتم و رواه ابوداؤد من غير وجه عن صفية بنت شيبة به كذا في التفسير لابن كثير ۲۸۴/۳).

(أخرجه ابن ابی حاتم).

(أخرجه الطبرانی كذا في التفسير لابن كثير ۳۲۸/۳).

(أخرجه ابن ابی حاتم هذا حديث غريب من هذا الوجه و في رجاله من لايعرف و قد رواه ابن جرير بسنده بنحوه).

(كذا في التفسير لابن كثير ۳۲۸/۳).

(أخرجه ابن اسحاق و أخرجه ابن ابی حاتم عن ابن الحسن مولى بن نوفل بمعناه ولم يذكر كعبا كما في التفسير لابن كثير ۳۵۴/۳، أخرجه الحاكم ۴۸۸/۳، ابن الحسن بسياق ابن ابی حاتم).

(أخرجه احمد كذا في التفسير لابن كثير ۳۰۱/٤).

(أخرجه ابن جرير كذا في التفسير لابن كثير ٥٤٠/٤).

(أخرجه ابن ابی داؤد في البعث و ابو الشيخ في السنة في الكنى و البيهقی في كتاب عذاب القبر و لاصبهانی في الحجة و غيرهم كذا في الكنز ۱۲۱/۸ و أخرجه سعيد بن منصور نحوه).

(زاده عبدالواحد المقدسی في كتاب التبصير كما في الرياض النضرة ۳٤/۲).

(أخرجه ابن عساكر كذا في المنتخب ٥ /۸).

# ایډیالوژي د ملي قدرت ستره سرچینه

محمد اشرف احرار

ایډیالوژي، کلتور او عقیده دا درې واړه په خپل ځان کې یو ځانګړی قدر مشترک لري، چې هغه ملي تشخص یا ملي قدرت دی. یعنې دا هغه څه دي چې یو ملت په پیژندل کېږي، او یو ملت یا قوم له نورو څخه بېلوي. دې درې ګونو اصطلاحاتو ته که موږ یو نوم وکړو د تهذیب یا فکر نوم ورته ورکولای شو.

ځانګړی ملي تهذیب یا فکر چې د پېړیو پېړیو بشري نفسیاتو، میلاناتو او ځانګړو تاریخي پیښو په پایله کې رامنځته کېږي، او مادي، تولیدي او تعمیري برخې ته یې تمدن ویل کېږي.

ځیني خلګ د پردي تهذیب یا فکر خپلول یا مصلحت وربانديې کول یوه سطحي مسئله ګني، او د هغې له نازک والي او اهمیته څخه یا علم نلري یا ځان نه وربانديې پوی کوي. ولې چې په اوسنی نړۍ کې دا یو حقیقت دی چې پردي عادتونه او رواجونه، تمایل او تقلید د یو ملت او قوم پر دین او اجتماعي ضمیر مهم نقش پرې باسي، او حتی د هغوی د اجتماعي مرګ لامل کېدلای شي.

کلتور، عقیده او باورونه دا د یو ملت حیاتي ارزښتونه دي. یوازې هغه ملتونه د الهي پیغام د اخیستلو او ساتلو حقدار دي؛ چې اوچتې ملي او فطري ځانګړتیاوې ولري او هغوی ته وفاداره وي ، له هر ډول بدعت او تقلید سره حساسیت ښيي. همدا ځانګړتیاوي ملتونو ته په بشري ټولنو کې قائدانه او نړیوال حیثیت وربخښي، او یوازې همدا ټولنې د تهذیبي ټکر په هرج او مرج کې بقا مومي. دا به ډېره سادګي وي چې موږ د لویدیځ اوسنی تهذیب او فکر د ساینسي او ماډرنې نړۍ د تکاملي خوځښت طبعي پایله ګڼو، او په هغوی کې د پخواني جهالت او کفري فلسفو، رومي تکبر او عیش خوښونې د عناصرو له امتزاج څخه انکار کوو. دا حقیقت دی چې اوسنی لویدیځ تهذیب د پخواني روم او یونان د تهذیب یو بېل یا پرمختللی شکل دی. په ورته وخت کې د ختیځ او لویدیځ د بې خدایه فلسفو، سیاسي او ټولنیزو حالاتو په ځانګړې ډول د اروپا د منځنیو پیړیو د ځانګړو تاریخي پیښو زیږنده دی. خو د لویدیځ نظام ته د یو متکامل عقلاني نظام پروپاګند په هغه کې د دې عناصرو انعکاس کاواکه کړی. چې عادي انسانان یې تفکیک نشي کولای. له همدې امله د تهذیب او فکر په ساتنه کې د اسلام احتیاط او ټینګار، په دې مورد کې د اسلامي تعلیماتو پریماني دا په ګوته کوي چې په بشري ټولنو کې د ایډیالوژۍ پدیده کومه ساده مسئله نده. په قرانکریم کې الله تعالی فرمایي:

« ولن ترضی عنک الیهود و لا النصاری حتی تتبع ملتهم...»۱

دلته په اصل کې الله تعالی د دریو سترو اسماني او تمدني مذاهبو تر منځ د سیاسي اختلاف او نظامي ټکر اساسي عامل دین او فرهنګ ګڼي. او زموږ په وړاندې د دوی د سیاسي نیت او تګلارې له اصلیت څخه پرده پورته کوي؛ چې هغه د جوړ جارې پر ځای د تل پاتې جنګ او مقابلې فلسفه پیاده کول دي. څکه خلګ پوهیږي چې د یوې ځانګړې ایډیالوژۍ او فکر په بقا کې د ملتونو د بقا راز نغښتی دی. په صدر اسلام کې د صحرایي عربو په تمدني عربو بدلیدل، او د اسلام د دین د چټک پرمختګ لامل هم په اصل کې د نړۍ او د بشریت د ټولنیز ژوند لپاره د عربو د یوه نوي پیغام او نوي فکر سره راټوکېدل و. محمد رسول الله (ﷺ) یوه لوري ته د دې نوي پیغام او دین په مټ د عربو فطري وړتیاوې را برسېره کړې، د دوی له شیندلي قبیلوي خواکونو څخه یې یو متحد قدرت جوړ کړ، او بل لوري ته یې همدا قدرت له دیني ارزښتونو او افکارو سره وتاړه. د قدرت او فکر د همدې امتزاج په پایله کې پرته له یوې اوږدې تکاملي پروسې هغه عرب چې د روم او فارس په وړاندې یې د مقابلې بیخي تصور نه و کړی؛ په ډېر لنډ وخت کې د روم او ایران په څېر پر متمدنه امپراتوریو له فکري او سیاسي پلوه برلاسي

شول. یو غربي تاریخپوه وایي: په شپاړسمه پېړۍ کې د عثمانیانو حیرانونکي فتوحات رعیتونو له اسلام سره د دوی د سختې وفاداري پایله تصور کړه، او له دین سره د دوی همدې کلک تړاو سلطان ته پر عربو او پراخه اسلامي نړۍ د اقتدار جواز وربخښلی و.

د افغانستان د استقلال په مبارزو کې د افغانانو د ویاړلو کامیابیو اساسي علت هم د افغانستان د ملتونو پر دیني ارزښتونو، او دیني علماوو باور او پر افغاني ټولنه د علماوو پیاوړی اثر رسوخ و. په تېر شل کلن انقلاب کې د افغانستان غریب ملت د پریمانه ډالرو برسېره بیا هم پر خپل دین او فرهنګ معاملې ته تیار نشول، د مصلت پر ځای یې د جنګ لار غوره کړه او همدا یې د کامیابي سبب شو.

لویدیځ هم د ډیرې اوږدې سرګرداني په پایله کې د یوه انتیکه نړیوال تمدني او فکري قدرت په شکل تبارز وکړ. په دوه سوه کلنو صلیبي جګړو کې دوی هر ځلې ماتې خوړلې وه؛ ولې خو په نولسمه پېړۍ کې چې دوی له یوه نوي فکر، نوي تهذیب او نوې جذبې سره راپورته شوي و نه یوازې اسلامي نړۍ؛ بلکې ټوله نړۍ یې لاندې کړه. ځکه دا ځلې دوی یو نوی ساینسي او صنعتي قدرت و. دوی د ژوند، ټولنې او سیاست لپاره نوي افکار، نوې فلسفې او نوی پیغام موندلی و. ګلیلو په ساینسي علم کې انقلاب راوستی و. روسو او والتیر د دوی د اجتماعي ژوند پیغمبران و. د ډارونیزم د فطري انتخاب، د بقا د تبارز، د نژادي برتري او پستي فلسفو د دوی امپریالستي سیاستونه او مانورونه توجیه کول. اسلامي نړۍ ولې چې مجددین نه درلودل، نه جهادي او انقلابي روح کې پاتې و، د نظامي او فکري تاړاک په وړاندې د شګو دیوال ثابت شو.

همداسې د کمونیزم د بې ساري چټک پرمختګ لامل د شوروي اقتصاد او ټیکنالوجي نه وه. ځکه پدې دواړو کې لویدیځ تر شوروي وړاندې و، بلکې دا د کمونستي «منی فستو» طلسم او اثر و چې نیمه نړۍ یې لاندې کړه. اوسنی روسیه چې د کمونستي احزابو په سر کې وه، په نړۍ کې یوازینی دویم قطب و، ماتې هم هغه وخت یقیني شوه کله چې سوسیالیزم (کمونیزم) د اوږدې تجربې وروسته یوه ناکامه فلسفه او ایډیالوجي ثابته شوه.

شلمه پیړۍ له سیاسي او تمدني پلوه د تاریخ تر ټولو انقلابي پیړۍ وه. دا ځکه چې په هغې کې ملتونو د نظریاتي او فکري بقا تر ټولو خونړۍ مبارزه کوله. د شلمې پیړۍ په اوله نیمایي کې دوه نړیوال جنګونه په اصل کې د فاشیزم او کمونیزم؛ دیموکراسي او دیکتاتوري؛ کاپیټالیزم او سوسیالیزم؛ استعمار او ازادۍ غوښتونکو د فکري ټکر نتیجه وه. همداسې په دویمه نیمایي کې اوږده سړه جګړه چې ملتونو یې په ګرمو وینو کې ساتلې ول د کاپیټالیزم او کمونیزم جنګ و. له سړه جنګه وروسته چې اصلي لوبغاړي او ګټونکي یې مسلمانان و؛ د اسلامي امت راویښېدل او په وړاندې یې د لویدیځ متحرکه کېدل حتمي و. ځکه اسلام یوازینی احتمالي خطر پاتې و چې لویدیځ یې ننګولای شولای. د اسلام سیاسي او تمدني ظرفیت، فکري او تبلیغاتي ځواک، په اسلامي نړۍ کې د اسلامپالو او اسلام پالني فکري تبارز لویدیځ په خپل منځي بحثونو کې ډېر راپارولي و. پر افغانستان باندې امریکایي یرغل یوازې جیوپولیټیکي اړخ نه درلود لکه ځیني سادګان چې ټینګار ورباندې کوي بلکې دې یرغل فکري اهداف او اندیښنې درلودلې چې هغه اسلامي فکر او د اسلام پالنې احیا وه چې په افغانستان کې راټوکېدلې وه.

د امریکا د خارجه پالیسي یو مهم اصل د ډیموکراسي پر اصل ټینګار دی چې یوه فکري جنبه لري. پر همدې اساس یې پر عراق ناروا یرغل راوړ. ځکه امریکا پلان درلود چې د یوه سوچه ډیموکراټیک عراق په تقلید به په ټوله عربي نړۍ کې د ډیموکراسي نظام رامنځته شي، او ولې چې فقط په یوه ډیموکراټیک منځني ختیځ کې د اسرائیلو تسلیمېدل او له هغوی سره سیاسي تعامل شوني دی.

په عراق کې له ماتې وروسته امریکا د همدې اصل د تأسیس لپاره په منځني ختیځ کې د عرب پسرلي په نامه پر پلان (B) کار وکړ، او په پایله کې یې منځنی ختیځ د انارشیزم، بې ثباتي او تباهي و لوري ته ورټېل واهه، چې لیبیا، شام او یمن یې ښکاره بېلګې دي.

دا تاریخي واقعیتونو د قرانکریم د ایت تائید کوي چې د ملتونو تر منځ د جنګ او تصادم اولنی علت «قدرت» نه؛ بلکې «ایډیالوژي» ده. قدرت په نړیوالو سیاسي کشالو کې ثانوي حیثیت لري.

د یوې ایډیالوژي او فکر له نړیوال کېدلو او راپورته کېدلو سره ملتونه راپورته کېږي او د یوه فکر او ایډیالوژي له شکست او انحلال

سره ملتونه منحل کېږي

**په نړیوال سیاسي لټریچر کې د ایډیالوژي اهمیت**

په نړیوالو سیاسي چارو کې تر ډېره د ریالیزم نظریه حاکمه ده. د نوموړې نظریې سره سم د انارشیزم او یوه مرکزي قدرت د نه شتون په پایله کې رامنځته شوې اندیښنې ټل هیوادونه د قدرت پر سیالي او امنیتي مسائلو ته پر پاملرنه مجبوره کړي. له همدې امله یوازې دولتونه د یوه سیاسي لوبغاړي په حیث مني چې فوځونه او نظامي صلاحیتونه لري. لیبرالیزم هم په نړیوالو سیاسي چارو کې مطرحه نظریه پاتې ده. د نوموړې نظریې سره سم په نړیوالو سیاسي چارو کې د قدرت په پرتله اقتصاد، سیاسي مفاهمت مهم شی دی چې د نړیوال امنیت ضمانت کولای شي. له همدې امله مونږ د دولتونو برسیره د سیمیزو او نړیوالو سازمانونو، اقتصادي او ټولنیزو همکاریو له ارزښته هم انکار نشو کولای.

خو په تیره پیړۍ کې د نړۍ د خونړیو انقلابي پېښو په اټکل او مخنیوي کې، یا هغوی ته په رسیدګي کې دا دواړه نظریې وخت پر وخت ناکامه ثابته شوې. په ځانګړې ډول د شوري له ړنګیدو وروسته ریالیزم یوه نیمګړې نظریه ثابته شوه. ځکه شوروي پر نظامي قدرت له بې ساري پاملرنې برسیره ماتې خوړلې وه.

ددې یو لامل دادی چې د نړۍ د سیاسي وضعیت د څېړلو لپاره دا دواړه غربي نظریې دي. ولې چې غربي شنونکي عموما د خپل ځانګړې مادي فکر پر اساس طبعي ده د پېښو پر مادي او تخنیکي شننه او توجیه ټینګار کوي. او د پېښو تر شا ژور فکري او معنوي عوامل له پامه غورځوي. لکه موږ چې اشاره ورته وکړه د نړۍ ټولې سترې پېښې تر شا، هغه که امنیتي وي او که ټولنیزې، فکري جرړې لري. او همدا د نړیوالو سیاسي چارو اسلامي لید لوری دی. ډیری خلګ د شوروي د سترې ماتې لامل د دوی اقتصادي رکود ګڼي. خو په اصل کې د شوروي د ټوټه کېدلو لامل د کمونیزم یا سوسیالیزم فکري او فلسفي شکست و چې د شلمې پیړۍ په اوږدو کې په عیني شکل څرګند شوی و. د دې دلیل دادی چې د شوروي د ماتې لامل که فقط اقتصادي و؛ نو بیا باید د پخواني شوروي هیوادونو تر منځ نظریاتي یووالي پاتې ولای، چې هغه کمونیزم و. ښکاره ده چې داسې څه نشته. نو د شوروي د ناکامي لامل د فکر ناکامي وه.

غربي شنونکي د دولتونو د قدرت د ارزیابي او موازنې په وخت کې د هغوی دفاعي بودیجې، تخنیکي وړتیا ، نظامي تجهیزاتو ته حساب کوي، مګر ډېر کم شنونکي دې ټکي ته پاملرنه کوي چې ستر قدرتونه د سیمیزو او نړیوالو سازمانونو په مټ د یوه ځانګړې فکر پر خپراوي او پروپاګند څومره بودیجه مصرفوي. د (TED)د یوه ویناوال په نظر په راتلونکي نړۍ کې به ستر قدرتونه نه امریکا وي نه چین! بلکې د رسنیزو شبکو اداري به وي. ځکه رسنۍ د ملتونو پر فکري لیدلوري نیغ تاثیر لري. د ملتونو د ځان لپاره د خوښولو او ردولو قدرت د رسنیو په لاس کې دی، او همدا فکري تاثیر ګذاري د ملتونو تقدیر بدلوي.

**د فکر او ایډیالوژي د هیواد پر داخلي او خارجي سیاست اغیز**

د ملي قدرت د نورو منابعو بالعکس ایډیالوژي یوازینی هغه عنصر دی چې ملتونه افاقیت، د سیمې او نړۍ رهبریت ته تیارولای شي. که ته چېرې په سیمه کې د فکري قدرت مرکز پاتې شې ښکاره ده ستا د قدرت محیط به څو هیوادونو ته غزېږي، او هغه به د جنګ او سولې په وخت کې ستا متحدین پاتې کېږي.

د فکر یا ایډیالوژي سیاسي یا عملي تعریف داسې کېږي: ایډیالوژي له هغه فکري او عقیدوي نظام څخه عبارت ده چې پر بهرنیو واقعیتونو پلي کېدلای شي. نو هغه نظام او فکر چې بهرني واقعیتونه تعقیبوي، او هغه یې تر نظر لاندې وي عموما د ملتونو سیاسي لرلید ته افاقیت او پراخوالی ورکوي. په نتیجه کې ایډیالوژي په بهر کې موږ خپلو موخو ته په اسانۍ سره رسولای شي. او همدا لاسته راوړنې په داخل کې زموږ مشروعیت ته زمینه برابروي.

تاریخ ښودلې چې د هیوادونو فوځي او دفاعي ځواک او وړتیا د هغوی له فرهنګي میراث او عقیدې سره نږدې اړیکه لري. د طالبانو غورځنګ یې ښکاره بیلګه ده.

ریالستان چې په نړیوال سیاست کې د قدرت پر ټکي ټینګار کوي هم د ایډیالوژي پر اهمیت زور کوي، او هغه په نړیوالو اړیکو کې د هیواد د نفوذ او قدرت ملاتړې ګڼي، او په داخل کې یې د ملي یو والي

سبب بولي. د يوې کامیابه ایډیالوژۍ په پایله کې زموږ د قدرت ساحه هم په داخل کې مشروعیت مومي هم په بهر کې. او له دې سره د ټولنې وګړي د پریکړو او تصمیمونو په عملي کولو کې همکاري کوي، او دغه حالت نه یوازې دا چې د سیاسي ټيکاو لامل ګرځي بلکې د بنسټیزو بدلونو سبب هم کېږي.٦ د امریکا د خارجه پالیسي په محدوده اصولو کې یو د ډیموکراسي پر اصل ټینګار دی؛ ځکه دا په بهر کې د امریکا سیاسي امپریالیزم ته، یعنې د نورو هیوادونو په داخلي چارو کې لاسوهنې ته، مشروعیت ورکوي.

همداسې د ملي امنیت په اصولو کې د ملي او عقیدوي ارزښتونو ساتل د ملي امنیت له مهمو مسئولیتونو څخه شمېرل کېږي. له دې څخه څرګندیږي چې ایډیالوژي څومره په نړیوالو سیاستونو کې مطرح ده، او په څومره اندازه په نړیوالو چارو کې حساب وربانديې کیږي. د فکر او ایډیالوژۍ د قدرت څخه په استفاده کې مسلمانان څومره بې باکه او بې تفاوته دي.

**لویدیځ او فکري جنګ**

موږ فکر کوو چې په نوې نړۍ کې چېرې چې غربي نظام حاکم دی نور مذهب، پر یوه ځانګړي فکر، عقیده او فرهنګ ټینګار ارزښت بایللی دی. او نړۍ یوه ازاده دنیا ده چیرې چې انسانان هر څه غواړي هغه کولای شي هغه ویلای شي. او له دې سره لویدیځ دا پروپاګند هم کوي چې مذهب ( اسلام ) سخت فکري او عملي حدود پلي کوي. له انسان او ټولنې د فکر، عمل او بیان ازادي اخلي. بالعکس لویدیځ د فکر او عمل ازادي ته عقیده لري. او پر یوه داسې ماډرنه ټولنه ټینګار کوي چیرې چې پر انسانانو ځانګړي فکري او عملي حدود نه پلي کیږي. او انسان به د هر ډول فکري، عملي او بیان له ازادۍ برخمن وي. مګر که موږ د لویدیځ د عملي سیاست تاریخ او د اجتماعي فلسفې لټریچر مطالعه کړو، نو موږ حیرانیږو چې د مادي او سیکولر لویدیځ هوښیار وګړي نن هم په سخت جذباتي شکل خپل دین، غربي افکارو او اجتماعي فلسفو ته ژمن دي او په دې معامله کې حساس دي. پدې واقعیت باید هر مسلمان پوی وي چې د یوه سیاسي او فکري ابر قدرت په حیث لویدیځ د نړۍ ماډرنیت ته نه؛ بلکې سوچه مغربیت ته ملا تړلې. په ۱۹۹۳ یم میلادي کال د جون په څوارلسمه د ویانا د بشري حقونو په کانفرانس کې د امریکا د هغه وخت د بهرنیو چارو وزیر وارن کریستوفر په ښکاره پر اسلامي او لیرې ختیځو هیوادونو نیوکه وکړه چې د لویدیځ نړیوالتوب مخه نیسي او د کلتوري تراو په نامه یې لویدیځ ضد افکارو ته پناه ورکړې. د دې برسیره پر افغانستان باندې د یرغل سره سم د بش له لوري د صلیبي جنګ اعلان یې ښکاره بېلګي دي. لویدیځ یا کفر فکري نړیوالتوب غواړي. هره نظریه او فلسفه چې د دوی د نړیوالتوب او استعمار مخه نیسي هغه دوئ ته د منلو نده. مارکس د غربي علمي معیارونو سره سم تقریبا مارکسیزم په یوه ساینسي او منطقي نظریه ثابته کړی و. خو بیا یی هم د هغې د له منځه وړلو لپاره یوه پیړۍ مبارزه وکړه. همداسې نیشنلیزم چې د اروپایی نشاة ثانیة، ملی وحدت او ویښتابه له اساسي عناصرو څخه و، نور په لویدیځ کې له منځه یووړ. ځکه دې فلسفو د دوی د جهاني استعمار او استحصال مخه نیوله. ولې چې په معاصره نړۍ کې د یوه هیواد یا ملت یا ځانګړې طبقې نړیوال حاکمیت یا واک ستونزمن دی؛ نو لویدیځ د یوه هیواد د نړیوالتوب پر ځای د یوه فکر د نړیوالتوب هڅه کوي. ولې چې یوازې د فکر له نړیوالتوب سره اقتصادي، سیاسي او نظامي نړیوالتوب شوني دی.

په زړه پورې داده چې د نړیوالتوب لپاره کفر له همغه طرحې کار اخلي چې قرآنکریم څوارلس سوه کاله وړاندې د خپل نړیوالتوب لپاره پیاده کړی وه. یعنې په دې معنا چې فقط یو دین په ژوندانه او ټولنه کې د فعالیت حق لري او نور ټول معطل دي. که یو هیواد د بین الملل له غړیتوبه وروسته د هغه له چارټر انکار وکړي؛ له هغه هیواد سره د یوه مرتد او کافر په څېر ماملە کېږي. له تهدید او نصیحت وروسته به ارو مرو د بین الملل له نظامي او اقتصادي سزا سره مخامخ کېږي.

د نړۍ د هري جغرافیې، هر دین او فلسفې په نسبت د اسلام دین او ملتونه د کفر د دې فکري استعمار او نړیوالتوب په وړاندې خنډ دي. ولې نو طبعي ده چې د اور او بارودو په هره لوبه کې به دوئ ښکېل وي. ځکه اسلام یوازینی نړیوال دین پاتې شوی او لا یې هم دعوه لري. د فکري او تمدني ظرفیت، جغرافیایي موقعیت، افرادي قوت له پلوه اسلام د لویدیځ لپاره یوازینی او واقعي خطر دئ، او حتی لویدیځ یې د خپلې ناکامي او نابودي په احساس پوئ کړی دئ.

د قدرت په کشمکش او سیالي کې نظامي او فوځي عناصرو د اتومي وسلو له پیدا کېدو وروسته خپل اولویت بایللی دی. او ځای یې اقتصادي او فکري عناصرو ته پرې ایښی دی. خو ولې په نړۍ کې د بېلا بېلو اقتصادي قدرتونو له رابر سیره کېدو سره نړۍ نوره د اقتصادي توازن ولوري ته خي، او د هر هیواد اقتصادي بقا به د بل هیواد په اقتصادي بقا پورې تړلې وي. له دې سره اقتصاد ملتونو ته دومره حیاتي بڼه خپله کړې چې موږ یې په امنیتي یا نظامي عنصر کې منحل ګڼلای شو. یوازینی عنصر چې پاتې کېږي چې د ملي سیاستونو تر منځ به بې اندولي رامنځته کوي هغه فکري او دیني عنصر دی. ولې چې فرهنګي یا فکري منابعو ته ملتونه په برابر ډول لاس رسی نلري؛ نو همدا به د دوی تر منځ د راتلونکې نړۍ د سترو جنګونو اساسي علت وي. همدې حقیقت په کتلو سره د نړیوالو اړیکو یو نامتو مفکر سامول هنتېنګتن .
P. HANTINGTON د سړې جګړې وروسته د راتلونکې نړۍ په سیاسي چارو او سیستم کې د «جیو کلچر» نظریه وړاندې کړه. یعنې په نږدې راروانه نړۍ کې به د جنګ او سولې په وخت کې د قدرت تر ټولو مهم عنصر فکر او کلتور وي.
وګورئ د هغه کتاب: (THI CLASH OF CIVILIZATIONS AND THE REMAKING OF WORLD ORDER)

**موږ له فکري پلوه ستر قدرت یو**

په اقتصادي او نظامي قدرت کې نړیوالو قدرتونو اوس د امامانو مقام خپل کړی. دوی چې د ثروت د ټولولو او جلبولو لپاره کومې روا او ناروا طرحې ترتیب کړې؛ هغه د دوی د پیړیو پیړیو حرص او مادي نفسیاتو پایله ده. مسلمانان هېڅکله د ثروت، مالي امکاناتو او ذرائعو د راټولولو لپاره دومره خواری نشي ایستلای. او نه د اقتصادي چارو د پرمختګ لپاره هغه روا او ناروا لارو چارو ته اجازه ورکولای شي چې ستا بډایتوب د نړۍ او نورو ملتونو د لوټ ذریعه ګرځي.
د نظامي قدرت له پلوه کفري نړۍ د خپل انتهایي پرمختللي اقتصاد او اوچت علمي او تحقیقي نصاب په پایله کې اتومي او بیالوژیکي وسلو ته لاس رسی موندلی. داسې نظامي وسائل یې تولید کړي چې د نړۍ ټولې لویې وچې، فضا او سمندرونه یې تر کنټرول او هدف لاندې دي. مواصلاتي شبکې لري. په عین حال کې پیاوړې اقتصادي او نظامي اتحادیې لري.
د مادي وسائلو له پلوه موږ له دوی سره سیالي نشو کولای. دا په دې معنا نه چې ګوا موږ بې ظرفیته یا بې کفایته یو. بلکې د مسلمانانو دیني او اجتماعي مزاج، د الله تعالی پر قدرت او اخرت ایمان، د عبادت، توکل او غنا نفیسیاتو اسلامي ملتونه داسې جوړ کړي چې مادي، تخنیکي او اقتصادي اهدافو ته اولویت نشي ورکولای. او حال دا چې د ساینس او مادي وسائلو له پلوه چې کفر، په ځانګړي ډول لویدیځ، کومې نقطې ته رسیدلی هغه پدې چې له مادي، تخنیکي علم او ثروت سره د دوی محبت او دلچسپي د عشق او عقیدې تر کچې وه. همدې شیانو د دوی په زندګي کې د ژوند تر بلې هرې چارې اولویت او ارزښت درلود.
موږ وینو چې هغه اسلامي هیوادونه چې له یوې پیړۍ راهیسې د همدې مادي او نظامي پر مختګ لپاره هر ډول هڅې کوي، حتی پر خپل دین، عنعناتو او فرهنګ یې پښې کښیښودې، تر څو د لویدیځ سره سیالي وکړي، خو بیا هم له هغوی سره په سیالي کې پاتې راغلي.
دا د سعودي د ځوان او ټینګي شهزاده د عربو له دیني او تاریخي نفسیاتو او اوسني وضعیت څخه ناپوهي ده، او یوه تاریخي تیروتنه ده چې دی له «شرق اوسط» څخه نوې اروپا جوړوي. د عربو د قدرت اصلي سرچینه او راز د هغوی ایمان، فکر او فرهنګ دی، چې دوی له پاتې ټولې نړۍ څخه پکې ممتاز دي. له همدې امله منځنی ختیځ د عربي ملتونو له لوري د یوه دوامدار فکري او دیني انقلاب له خطر سره مخامخ دی چې یو ورځ به د یوه انفجار په شکل پکې رامنځته شي. په ځانګړي ډول د فلسطین او اسرئیلو اوسنی وضعیت د دا ډول خطر اندیښنې نورې هم ډیروي. ښه اقتصاد چې اوس یې هم عرب لري د عربو د قدرت ضمانت نشي کولای.
له اسلامي نړۍ اروپا جوړول د یو مسلمان لپاره کوم ښه کار ندی. په ځانګړي ډول په دې نیت چې دا به عربي جغرافیه په یوه نړیوال قدرت واړوي، بلکې دا فقط د اروپا تقلید دی او مقلد هیڅکله په مجتهد پسې نشي رسیدلای.
نو یوازینی قدرت چې موږ او مسلمانان یې لرو هغه د دین، ایډیالوژي او پیاوړی تهذیب قدرت دی. چې د نړۍ بل هیڅ ملت یې په دومره اندازه نلري لکه مسلمانان چې یې لري.
د نړۍ ټول ملتونه له جاپانه ونیسي تر پیرو پورې د لویدیځ فکري او تهذیبي سیلاب پر

اوړو ورسره اخیستي. له فکري پلوه بشپړ متلاشي دي. دوی په نړیواله سطحه هیڅ فکري، سیاسي یا تمدني فلسفه یا ځانګړنه نلري چې د لویدیځ تهذیب او ایډیالوژۍ وننګوي. یا حد اقل د دوی امتیاز وي. چین به اقتصاد لري خو هیڅ داسې مفکر نلري چې د یوه ځانګړې چینې یا حتی لیرې ختیځ د ملتونو په نمایندګي د یو داسې فکر نوښت وکړي چې د نړۍ ملتونه ورته دعوت کړي. د نړۍ ټول هغه ملتونه چې د چټک پرمختګ ګامونه پورته کوي لکه: هند، برازیل او روسیه... په بنسټیز شکل اوس هم د لویدیځ د فکر او تهذیب څخه خړوبیږي. او د هم هغه غربي فرهنګ تقلید او پیروي ده چې په یوه او بل شکل د نړۍ د بیلا بیلو ملتونو تر منځ تکراریږي. د نړۍ د دې سترو ملتونو سنجیده وګړي له غربي تهذیبه سترې هم دي. ولې خو دوی هیڅ فکري منابع نلري چې ځان یا نړۍ ته د ژوند نوې تګلاره مرتبه کړي. هیڅ داسې پیغام نلري چې نړۍ ورته راوبولي.

خو د اسلامي امت قضیه بیله ده. اسلامي امت د لویدیځ د کلتوري او فکري ځواک په وړاندې د اسلام په څېر محفوظ اسماني دین لري چې له هر ډول تقلید او بدعت، او د هغه پر اصولو باندې له مصلحت څخه د محمدي دین علماوو پاک ساتلی دی. د باطلو تهذیبونو د بیا بیا نړولو، او صالحو ملتونو د بیا بیا راپورته کولو ځواک او قدرت لري.

له تاریخي پلوه نړۍ له نهایي په زړه پوري او ستراتیژیک حالت سره مخامخ ده. له یوه لوري نړۍ ورو ورو ګلوبولایزیشن ته ننوځي، یعنې نړۍ په یوه ستر کلي بدلیږي، طبعي ده چې هلته نیمګړي، تحریف شوي ادیان او فلسفې چې د افاقیت او ابدیت صفت نلري، په یوه ځانګړي قوم یا جغرافیه پورې تړلي وي، یا ملي او اسطوري شکل لري خپل افادیت او مقبولیت له لاسه ورکوي. له بل لوري په عین حال کې لویدیځ په نړیواله سطحه خپل سیاسي او فکري نړیوالتوب او باور له لاسه ورکوي. ځکه په تیرو درو لسیزو کې د دوی سیاسي دوه مخیتوب او بشر ضد جنایات په ځانګړي ډول په افغانستان، عراق او فلسطین کې ټوله نړۍ پر دوی بې باوره کړې، او په نړیواله ملي سطحه یو ډول لویدیځ ضد نفسیات راټوکېدلي. نو په داسې وضعیت کې یوازینی دین چې د نړۍ د رهبریت او مدیریت لپاره پاتې کېږي اسلام دی. ځکه اسلام د مقبولیت او محبوبیت یو ډول ځانګړی صفت لري. همدا لامل دی چې د باوري اعداد او شمار پر اساس داسې اټکل کېږي چې د نړۍ د بل هر دین په پرتله اسلام په ټوله نړۍ کې په ځانګړي ډول لویدیځ کې تیز پرمختګ مومي. او په راتلونکو څو لسیزو کې به اسلام د نړۍ تر ټولو ستر مذهب وي.

**افغان ملت د اسلامي رسانس ریښتونی حقدار**

د راتلونکې اسلامي نړۍ د رهبریت لپاره، یا د یوه واضح او ښکاره رسانس لپاره د نړۍ د بل هر مسلمان ملت په پرتله افغانان د دې ابتکار او تاریخي ویاړ وړ او حقدار دي. ځکه موږ د بل هر مسلمان ملت په نسبت د اسلامي فکر، ایډیالوژۍ او جذبې څخه مالامال ملت لرو. چې د تیرې یوې پیړۍ جهاد او قرباني یې ښکاره مثال دی. یوازینی ملت دی چې د غربي فرهنګ او دجالي فتنو څخه د نړۍ د بل هر مسلمان ملت په نسبت خوندي پاتې شوی. یوازینی داسې قیادت لري چې د تاریخ د تر ټولو ستر قدرت او ائیتلاف څخه یې نظامي او سیاسي میدان ګټلی دی. نو له هره پلوه د اسلامي رسانس د دې ستر او انقلابي ابتکار لپاره مناسب دی.

مګر د دې ټولو واقعیتونو برسیره که د افغانستان اسلامي امارت په واقعي او ریښتوني مانا د اسلامي رسانس او ویښتابه دا مبارک او مقدس ویاړ هم خپلول غواړي نو ځینو سختو مجاهدانه او مجتهدانه ګامونو اخیستلو ته اړتیا ده:

۱- په افغانستان کې په ولسي او رسمي سطحه د لویدیځ فکري او سیاسي رعب او اغیز له منځه وړل. هغه اوازونه، منابع او افکار تصفیه کول چې په شعوري او غیر شعوري توګه په افغاني ټولنه کې د لویدیځ د فکري رعب او تأثیر لامل ګرځي. یا پر فرهنګي او سیاسي اصولو د مصلحت او جوړ جاړي توصیه کوي. او د دې بالعکس پر داسې یو فکري او عملي لایحه کار کول چې د افغانستان د عوامو او خواصو د فکري او عملي اصلاح، ویښتابه او پر دین د اعتماد او کفر څخه د نفرت ذریعه وګرځي. په نتیجه کې به د افغانستان د وګړو او چارواکو د هدف او ارمان تر منځ پیوستون او یووالی راشي، او د سترو پریکړو او بنسټیزو بدلونونو لپاره به ذهنا تیار وي او یو د بل سره به همکاري کوي. هغه که د مکاتبو او مدرسو په مدغم کولو کیږي، که بله لاره او طریقه لري.

ددې لپاره باید موږ د نړۍ له روان او راتلونکي سیاسي وضعیت څخه عامه پوهاوی ولرو. یعنې باید موږ د افغانستان، سیمې او نړۍ له سیاسي وضعیت او موقعیت څخه ښه خبر یو. داسې نه وي چې موږ تر اوسه زموږ د شل کلنې مبارزې او اتل ولۍ سیاسي یا نظامي تحلیل نشو کولای چې ایا امریکا دلته ماتې خوړلې او که یا؟؟ او دا ماتې په څه مانا؟ امریکا د افغانستان او عراق له شل کلن جنګ څومره زیان لیدلی، او دا زیان د نړۍ پر سیاسي او اجتماعي چاپیریال څومره اغیز کړی. کله چې موږ د نړیوالې لوبې ستر لوبغاړي یو او بیا هم د نړۍ واقعي سیاسي وضعیت نشو اټکل کولای، دا زموږ د ملتونو او چارواکو د فکري او سیاسي لرلید او برداشت د اختلاف لامل ګرځي. او دا د نظر اختلاف ته د دښمن ورپام دی څکه نو تبلیغات کوي چې: طالبان له فکري پلوه تقسیم شوي، یا په طالبانو کې بدلون راغلی، ځینې له نړۍ سره لاره وړي او ځینې پر خپلو عنعناتو، اصولو او نهادونو سخت ولاړ دي. او حال دادی چې نړۍ خو باید زموږ په باره کې له یوه نظر پرته بل نظر ونلري چې موږ له هغه ایمان، باور او یقین سره سیاسي پریکړې کوو؛ له کوم ایمان او باور سره چې مو دا شل کاله مبارزه کوله. اوس هم باید د بې تفاوتي، ویېرې او فشار سیاست غوره نکړو. څکه دا خو دا نورو اسلامي هیوادونو دا سل کاله تجربه کړې له ذلته پرته یې بل څه ندي پکې تر لاسه کړي.

کله چې د ټولنې بانفوذه وګړي د امریکا او لویدیځ انزوایي او کاواکه وضعیت نشي درکولای، او د حالاتو اړوند مختلف لرلید ولري نو د سیاسي پریکړو په وخت کې له خپلواک او باوري ذهنیت سره پریکړه نشو کولای. بلکې پر نرم او مات سیاست به ټینګار کوو. او دا هغه وخت ډیر تاوان کوي کله چې د نړۍ سیاسي حالت په تیزۍ سره بدلیږي (لکه اوسنی وضعیت) او یو داسې صورت حال یې غوره کړی وي چې موږ باید پیښنو ته چټکه رسیدګي وکړو، فرصتونه ضایع نکړو، له ځیرکي او سختي ډیپلوماسۍ کار واخلو. څکه په داسې وضعیت کې سست دریځ موږ د نړیوال سیاست له مرکز څخه په حاشیه کې ساتي.

۲- د اسلامي نړۍ د رهبریت لپاره دا اړینه ده چې موږ یوه افاقي یا پراخه سیمیزه خارجه پالیسي تدوین کړو. چې هدف او محور یې یوازې زموږ او ستاسو سیاسي او فکري بقا نه وي. بلکې د ټول امت د فکري او سیاسي اصلاح او رسانس ذریعه وګرځي. موږ باید ټولو اسلامي ملتونو ته د خپلې تیرې پیړۍ د فتوحاتو او کامیابیو، د الله تعالی د ښکاره نصرت کېسه وکړو. چې څرنګه موږ په غربت، بې کسي او بې وسي کې په کانتینرونو ډالرو ته شا کړه، او یوازې پر الله تعالی باندې د ایمان او باور په مټ یوه پیړۍ وجنګېدو. او الله تعالی زموږ سره پر خپله وعده وفا وکړه؛ د بغاوت، فتحې او شهادت له وياړه یې همکناره کړو.

کله چې زموږ پخپله بهرنۍ پالیسي کې بهرنې او افاقي اهداف ولرو. نو یوه ګټه به دا وي چې موږ به ورو ورو د ازادۍ، استقلال او مبارزې پیغام تر اسلامي ملتونو ورسوو. او بل به زموږ ځوان نسل د یوه ستر یا نړیوال مسئولیت له احساس سره تل متحرکه او ویښ پاتې وي. د پیښنو او حالاتو له بدلیدو سره به یې احساس، اندېښنه او فکر یوازې تر افغانستان پورې محدود نه وي. بلکې د ټول اسلامي امت د بقا د جنګ مسئولیت به ورترغاړې وي. او دا احساس به زموږ ملت ارو مرو د اسلامي رسانس تر ارمانه ورسوي.

۳- د افغانستان قیادت، علماء، دانشوران، علمي کدرونه او اداري د نړیوال اسلامي قیادت او رهبریت لپاره باید پالیسي او تګلاره مرتبه کړي. د قانون، فقې، اجتماعي او سیاسي علومو یو داسې دائرة المعارف تدوین کړي چې د غرب له لټریچر څخه بې نیازه د نړۍ ، ژوند او ټولنې لپاره یو نوی دیني لیدلوری ولري. د مسلمانو ملتونو د ویاړ او نورې نړۍ ته د تقلید وړ وګرځي. له دې سره باید علماء او دانشوران د افغانستان ملتونه د ازادۍ ، استقلال، ویښتابه او ملي عظمت په ارزښت حتی پوی کړي. له بده مرغه زموږ د ملت یوه ستره برخه اوس هم د سیاسي او دیني استقلال په مفهوم او ارزښت ندي پوی ! زه وایم څرنګه یو ټولۍ د یوه داسې بیرغ او قیادت په اهمیت او ارزښت نه پوهیږي چې له څلویښتو سترو قدرتونو یې سیاسي او نظامي میدان وړی وي. څرنګه په افغانستان بلکې سیمه کې د دې ستر انقلاب او ستر ویاړ ادراک نشي کولای. چې کفر او اسلام اعتراف ورباندې کوي. نو د دې کمزوریو باید ادراک وشي. او د افغانستان ملت دې ټول داسې وروزل شي...

پاتی برخه (۵۲ ص)

# اتلان

**شهید مولوي محمد ایوب منیر تقبله الله**

**لیکنه او راټولونه: مفتي محمد بشار**

د افغانستان د اسلامي امارت په دېرش کلن تاریخ کې داسې اتلان راغلي چې هغوی د اسلامي نظام او هیواد لپاره تر خیال او فکر لوړې قرباني وړاندې کړې دي، داسې اتلان دي چې که د نړۍ په یو بل هیواد کې یې دا اتلولۍ ترسره کړې وای نو هرومرو به یې په هر یوه جلا سناریو او لوی مستند فلمونه جوړ کړي وو، د هغوی په ژوندانه به یې لوی کتابونه لیکلي وو او په ښوونیزو نصابونو کې به یې د ځوان کوول د روزنې لپاره د هغوی اتلولۍ ځای پر ځای کړې وې.

داسې اتلان د اسلامي امارت په تاریخ کې ډېر زیات دي، ترمنځ یې انتخاب ستونزمن وي، نه پوهېږم چې د اسلامي امارت له پیله ولیکل شي او که د شل کلن جهاد ستړي شوي غازیان او شهیدان یاد شي.

الله جل جلاله دې موږ ته توفیق راکړي چې د هغوی فرهنګي حق اداء کړو او ژوندلیک یې د لارې د مشال په توګه د راتلونکي نسل او په ځانګړي ډول د ملي اسلامي اردو د زړورو ځواکونو د مورال جوړولو او د لویو موخو د تعقیبولو لپاره د یو روزنیز پلان په توګه مدون کړو.

د امریکا او ناټو په وړاندې شل کلن جهادي مزل کې د افغانستان اسلامي امارت د غازیانو او مجاهدینو له سپېڅلي صف څخه داسې ډېر اتلان شهیدان شوي، یو له هغو څخه شهید محمد ایوب منیر تقبله الله و.

نوموړی د ملامحمد ابراهیم زوی، د قندهار ولایت د ژړۍ ولسوالۍ اوسېدونکی دی او له یوې جهادي کورنۍ سره تړاو لري.

مولوي محمد ایوب منیر ډېر زړور، مخلص، ژمن، وفادار او متدین مجاهد و، د ژوند ترپایه یې د اسلامي امارت سره وفا وکړه، روح یې هغه مهال د مرګ داعي ته وسپاره چې د اسلام او وطن له دښمن سره د جهاد په تود میدان کې بوخت و او خپله وفا یې د جهاد په ډګر کې وښودله. په ۲۰۰۱ م کال چې امریکا په افغانستان یرغل وکړ نو د خپلو مجاهدینو ملګرو په انسجام یې پیل وکړ او له هغه وخته بیا تر شلو کلونو پورې یې سپېڅلې فرضي جهاد ته ادامه ورکړه.

په ۲۰۰۳ م کال کې د دښمن له لوري له ۱۱۹ میله درنې او سپکې وسلې سره ونیول شو، نږدې څلورنیم ورځې یې له سختو شکنجو او ربړونو سره په اسارت کې تېرې کړې او بیا د یوې تبادلې په ترڅ کې ازاد شو.

دا چې په زندان کې یې ډېرې شکنجې لیدلې وې له دې امله یې درملنې او تداوۍ ته اړتیا وه، په همدې موخه څه موده په روغتون کې د درملنې لپاره پاتې شو او له روغتیا وروسته بیا خلې د یو سپېڅلي ارمان او ستر هدف لپاره د جهاد پاک ډګر ته راستون شو.

نوموړی له یو لړ چریکي او تکتیکي جنګونو سره اشنا و او ترڅنګ یې د بمونو جوړولو په برخه کې ډېر مهارت درلود، په جهادي بهیر کې یې د دښمن سلګونه ټانګونه او وسائط تخریب کړي وو، په خپله یې په غزا کې برخه اخسته، په کمینونو کې یې ونډه درلوده او ډېر وخت به د جګړې په لومړنۍ لیکه کې و.

د نوموړي د زړورتیا، اخلاص، وفاداری، ژمنتیا او تینګې ملګرتیا ډېرې مجاهدین مجبور کړي وو چې له نوموړي سره د جهاد په ډګر کې ملګرتیا وکړي او د ده تر قیادت لاندې دا سپېڅلې فریضه اداء کړي.

د شل کلن جهاد په درشل کې د نوموړي تر مشرۍ لاندې ۳۵ نظامي قومندانان، تر ۳۰۰ زیات ملګري شهیدان شوي او ۵۸۶ مجاهدین زخمیان شوي او په همدې شمېر مجاهدین ملګري یې اسیران شوي هم دي.

مولوي محمد ایوب منیر تقبله الله د یو شمېر اسلحو سره ډېر اشنا و، داسې بمونه یې جوړول چې په دې سیمه کې دمخه نه جوړ شوي وو او نه هم تجربه شوي وو، بلکې کوم وخت چې امریکایانو د بمونو کشفولو وسائل راوړل نو نوموړي داسې بمونه له تېزابو څخه جوړ کړل چې د هغوی وسائلو کشف کولی نه شول، دې کړنې امریکایان په سختو اندېښنو کې واچول او پلټنه یې پیل کړه چې له دې تخنیک او تکتیک څخه خان خبر کړي.

کله چې په لومړي ځل د هغه بم ځو تختې امریکایانو ترلاسه کړې نو هغه مهال د دفاع وزارت مطبوعاتي خلکو د امریکایانو په ګډون مطبوعاتي کنفرانس کې وویل چې روسیې له طالبانو سره مرسته کړې او داسې بمونه یې ورکړي چې د امریکایانو جایمر یې نه شي کشف کولی، خو حقیقت دا و چې دا بم د مولوي محمد ایوب منیر تقبله الله په لاس جوړ شوی افغانی امارتي بم و چې د دوی کشفي وسائلو نه شو کشف کولی.

د شل کلن جهاد پر مهال په عام ډول مجاهدین په جګړه کې له ډېرو ستونزو سره مخ کېدل، د بمبار وېره به وه، بې پلوټه ډرون الوتکې چې مخنیوی یې نه شو کېدلی ډېره وېره خپروله، خو د دې ترځنګ یوه لویه ستونزه به شپني عملیات و.

د شپنیو عملیاتو د ستونزې لامل دا و چې په یو کلي کې به د چاپې لپاره الوتکې ګرځېدلې، هلته به په بېلابېلو کورونو کې مجاهدین اوسېدل، هر یو به دا وېره درلوده چې شاید موږ هدف یو خو ترڅو چې به په هغه کور پیاده امریکایان راځرخېدلي نه وو او د لاوډسپیکر له لارې به یې ږغ نه و پرې کړی تر هغو به دا نه معلومېده چې څوک به په نښه وي او د چا پسې به راغلي وي، له همدې امله به د الوتکو په شر او شور کې ټول مجاهدین په خپلو ځایونو کې په تمه او وېره کې ناست وو.

مجاهدینو چې په لاسونو کې اسلحه اخستې وه او د دین او هیواد د دښمن پر ضد جنګېدل خو په دې پوهېدل چې په دې لار کې مرګ، زندان، زخم او هر ډول ستونزې شته، له امله یې د دې کړاونو وېره نه کوله، خو په شپنیو عملیاتو کې به له دې امله وېره وه چې دوی به په کورونو کې د شپې پاتېدل، هلته به مېرمنې او ماشومان ول، د بې چاره او معصومو مېرمنو او ماشومانو له وېرې به یې په شپنیو عملیاتو کې په جګړې لومړیتوب نه کاوه.

د دې ستونزو له امله مولوي محمد ایوب منیر تقبله الله د شپنیو عملیاتو د مخنیوي په پار د مجاهدینو پټنځایونو څخه تر دوه درې سوه مترونو پورې نغمونه وویستل، په پټنځای کې به یې باروت پټ کړل او د هغه چاپېره به یې له دوه تر درې سوه پورې ماینونه پټ کړل، کله چې به چاپه کې امریکایان راتلل نو دوی به په نغم کې ځانونه ترې پټ کړل چې هلته به یې واردمخه د اکسیجن ډبې، خواړه او اوبه ساتلي و، کله چې به امریکایان پیاده د دوی په لور راتلل نو لومړی به یې بمونه پرې انفجار کړل او کله چې به یې پټنځای ته نږدې شول نو پټنځای به یې پرې منفجر کړ چې د دوی ډېرو عسکرو ته به یې ځاني او مالي تلفات اړول، له دې وروسته به یې په هغه سیمه کې شپني عملیات نه کول.

د ۲۰۰۸ م کال په خواوشا کې د کندهار ولایت ژېړی ولسوالۍ د تنګری درې په سیمه کې اشغالګرو شپني عملیات وکړل، په دې شپني عملیاتو کې ۴۷ تنه کاناډایي عسکر ووژل شول، په دې شپه محمود تقبله الله او د هغه مېرمنې بي بي حلیمې دواړه استشهادي حملې وکړې او دښمن ته یې ډېر درانه تلفات واړول. شهیدې بي بي حلیمې په همدې عملیاتو کې د مجاهدینو همداسې یو پټنځای چې له باروتو ډک و کله چې اشغالګر ورته نږدې شول انفجار یې ورکړ او یو شمېر عسکر یې پکې د مرګ کندې ته ورټېل وهل.

د افغانستان د خپلواکۍ او د اسلامي نظام د حاکمیت لپاره نه یواځې نارینه و بلکې د افغانستان غیرتي مېرمنو هم قربانۍ ورکړې دي، دلته یواځې یوه ملاله نه ده بلکې د شل کلن جهاد پر مهال ډېرو نورو ملالیو هم د امریکا او ناټو په وړاندې ځانونه او یا خپل تنکي زامن قربان کړل او په خپل همت، زغم او قربانیو یې دا مبارزه بریا ته ورسوله.

که تاسې د پنځو دقیقو لپاره خپلې سترګې پټې کړئ، او داسې فکر وکړئ چې په خپل کور کې له خپلې مېرمنې او تنکیو بچیانو سره ارام ویده یې، نیمه شپه ده او ستا زړه ډاډه دی چې یو ناڅاپه الوتکې راځي، ستا د کور له پاسه څرخي، واړه بچیان دې د الوتکو په شور له خوبه بیدارېږي، ته هم د خواړه خوب بستره پرېږدې، له زړه دې ډاډ وځي او وېره پکې خپرېږي، څو شېبې وروسته په لاوډ سپیکر کې خپل نوم اورې چې وایي پلانکیه اسلحه په ځمکه کېږده او دباندې راووځه، ته باید په لسو دقیقو کې ځان عسکرو ته وسپارې، که داسې ونه کړې نو ځمکني او هوایي ځواکونه ستا تر کور چاپېره دي له بې ګناه مېرمنو او بچیانو سره دې وژني، مېرمن درته وایي دا تا یادوي، اه!؟ دا خو یې ستا نوم واخست، بچیان دې په معصومو سترګو تاته ګوري، د مېرمنې سترګې دې له اوښکو

ډکیږي او د مخ له رګونو څخه یې وینه تښتي، وېره او اندېښنې یې د زړه دنیا ډکوي او فکر کوي چې نور مو د ژوند وروستۍ شېبې دي.

ته په همدې مهال مخه ښه ورسره کوې، خپلو بچیانو ته غاړه ورکوې او بیا په نیمه شپه کې تر لېوه ډېرو وحشي دښمنانو منګولو ته ځان رسوې، زړه کې راګرځوې چې ورشم او که پاتې شم؟ که ورشم نو تل به د هغوی تر ربړونو او کړاونو لاندې یم، ښه به دا وي چې د باروتو ډک واسکټ واغوندم او د الله لپاره شهادت ترلاسه کړم، ته چې واسکټ ته ځې او له اغوندو وروسته یې مېرمنې ته راځې چې په وروستي ځل یې ووینې هلته دې مېرمنې هم د استشهاد لپاره واسکټ اغوستی وي او د یرغلګرو په منځ کې ستا سره یوځای د شهادت جام نوش کوي.

څه فکر کوئ! دا څومره اسانه کار دی؟ نه، نه، دا خورا ډېر ستونزمن کار دی خو دا سپېڅلی نظام په همداسې قربانیو ترلاسه شوی دی او د همداسې اتلانو له امله نن افغانستان ازاد دی.

موږ د الله دربار ته لاسونه پورته کوو چې خدایه! د خپل جنتونو تر ټولو لوړې درجې او نېکمرغه ژوند همدوی ته ورکړه ځکه چې دوی یې وړ دي او په دنیا کې ډېر ستړي وو.

د مولوي محمد ایوب منیر تقبله الله تر مشرۍ لاندې مجاهدینو د یرغلګرو د هر ډول تکتیک په وړاندې خپلې تجربې وښودلې او په هر ډګر کې یې هغوی ته ماتې ورکړه.

کله چې امریکایانو په قطر کې له طالبانو سره خبرې پیل کړې او د اسلامي امارت په مذاکراتي ټیم کې الحاج ملاشیرین اخند حفظه الله هم قطر ته ولاړ، نو یوه ورځ د خبرو پر مېز امریکایي لوري یادونه وکړه چې ستاسې ځینې خلک دلته له موږ سره په دفتر کې خبرې کوي او وروته یې په افغانستان کې له موږ سره جنګېږي او دا خبره یې د نیوکې په توګه وکړه.

مولوي محمد ایوب منیر تقبله الله چې د الحاج ملاشیرین اخند کشر ورور دی په دې وپوهېدی چې ماته اشاره کوي، نو ځواب کې یې ورته وویل: موږ دلته له تاسې سره مېلې لپاره نه یو ناست، بلکې د همدې لپاره ناست یو چې تاسې له خپل هېواده وباسو، که په خبرو کېږي خبرې کوو او که جګړه وي له جګړې هم نه یو ستړي شوي، یواځې زه داسې نه یم بلکې دا نور ملګري چې د مذاکرې په مېز درسره ناست دي هر یو یې نظامي قومندان دی چې په خپل وطن کې ډلګۍ لري او جهادي فعالیتونه ترسره کوي.

له دې سره امریکایان ډېر حیران او خواشیني شول، ځکه چې امریکا په نړۍ یو ډول سیاسي تسلط لري، ټول یې د پلانونو پیروي کوي او یواځیني طالبان و چې دوی ته یې د جګړې په ډګر کې او هم د خبرو په مېز غاښ ماتوونکي ځوابونه ویل.

د ۱۳۹۹ ل کال اتمې میاشتې په ۱۵ مه نېټه د کندهار په ارغنداب کې امریکایانو پراخ نظامي عملیات پیل کړل، دې عملیاتو نږدې اووه میاشتې دوام وکړ چې سلګونه نظامي وسائط او ټانګونه، نظامي عسکر او هوایي قواووې یې هم پکې وکارولې.

مولوي محمد ایوب منیر په پیل کې له ۱۵۰ مجاهدینو سره ارغنداب ته ولاړ، نیم ارغنداب یې فتح کړ، دا چې د دښمن ځمکني او هوایي ځواکونه ډېر او پیاوړي وو نو وروسته له هلمند، زابل، غزني او فراه ولایتونو څخه هم مجاهدین د مرستې لپاره راورسېدل.

دا غزا چې تر اووه میاشتو پورې وغځېده، دښمن ته یې ډېر ځاني او مالي تلفات واړول او ۲۳۰۰ مجاهدین هم پکې شهیدان شول، له دې څخه ۱۳۰۰ مجاهدین د ارغنداب ولسوالۍ کې شهیدان شوي دي، ۱۰۰۰ مجاهدین په ژړۍ، پنجوایي او ډنډ ولسوالۍ کې شهیدان شوي دي.

کله چې جګړې شدت پیدا کړ، دښمن له خپلو ټولو امکاناتو ګټه واخسته، له ځمکنیو ځواکونو څخه یې هوایي ځواکونو باندې ډېر تمرکز وکړ او په بمبارونو کې یې ډېری مجاهدین شهیدان کړل، ځینې مهال به مجاهدینو د فدایي حملې لپاره موټر بم روان کړی و خو دوی به له هوا څخه بمبار کړ، په دې لړ کې یوه ډېره دردونکې پېښه هم رامنځ ته شوه، مجاهدینو په هاموې موټر کې تر درې ټنو زیات بارود ځای په ځای کړل او فدایي ته یې ورکړ چې د خپلې استشهادي حملې په ترڅ کې د دښمن صفونه مات کړي، استشهادي چې تر یو ځایه پورې ولاړ او له

موټر سره پوره اشنا نه و، په ختو کې یې هاموې موټر بند شو، دیارلس تنه نور استشهادیان ور ورسېدل ترڅو موټر یې په ټېلو له ختو وباسي، د دوی له رسېدو سره هوایي بمبار وشو او له موټر سره یې دا دیارلس تنه استشهادیان په یوځای شهیدان کړل.

دا پېښه د مجاهدینو لپاره ډېره دردوونکې او همت ماتوونکې وه، دیارلس تنه روزل شوي استشهادیان په یوځای او داسې مهال شهیدان شول چې که هر یو په خپل ځای کې د پلان له مخې برید کړی وای نو شاید چې د سلګونو نورو مجاهدینو ژوند یې ژغورلی و، د دښمن مورال به یې ختم کړی و او خط به یې ور مات کړی و.

د ارغنداب دا تاریخي غزا چې د دښمن له لوري یې ژور او پراخ پلان جوړ شوی و، ډېر مالي او ځاني تلفات یې پکې درلودل او هم یې په لوړه بیه لګښت پرې کړی و، خورا ډېر ارزښت یې ورته درلود.

د ارغنداب ولسوالی په منځ کې له شرق تر غرب پورې د ارغنداب رود تېر شوی، د دې رود جنوب لوري ته د دښمن ساحه وه او شمال ته یې مجاهدین اوسېدل، ارغنداب ولسوالۍ ډېر باغونه او شنې ساحې لري، مجاهدینو په همدې باغونو کې ځانونه پټول، د رود له پاسه شرق خواته د سربند په نامه پل تېر شوی دی، دښمن د جنوب له لوري په همدې پله باندې شمال ته را واوښتل، خپلې ځمکنۍ قواوې یې د باغونو څخه په خواوشا اته کیلومتره ساحه کې د صحراء او باغونو ترمنځ خپاره کړل، او له شرق څخه یې تر غربه پورې خپل خط جوړ کړ چې په دې توګه مجاهدین محاصره شول، یو لور ته یې رود دی، له رود په آخوا جنوب لور ته د دوی تر ولکې لاندې پراخه ساحه او ډېرې پوستې وې، تر شا یې د دښمن ځمکنۍ قواوې پرتې وې او د مجاهدینو د شمېر له مخې په همدې جګړه کې دښمن په یو وخت کې ۲۶ نظامي الوتکې هم راوستلې وې.

په داسې مهال مجاهدین له نا معلوم نظامي پلان او پراخې جګړې سره مخ شول، نو هڅه یې کوله چې له دې ساحې څخه ځان وباسي، خو دښمن یوځل هڅه وکړه چې مجاهدین منځ کې سره جلا کړي او بیا یې لړ لړ شهیدان کړي، په همدې موخه د دوی پیاده قواوو د شمال له لوري حمله وکړه او د سربند او تابین دوه پلونو ترمنځ یې د سرکاري بند په لوري یې خپلې قواوې پیاده کړې، په دې سیمه کې مجاهدینو دوه میاشتې کمربند ورته ترلی و او سخته جګړه یې ورسره وکړه چې په ترڅ کې یې احمد مولوي صاحب له یو شمېر ملګرو سره شهید شو، تقبلهم الله.

له دې وروسته مجاهدین د تابین پله په لور روان شول ترڅو په پایله کې باغ پل ته ځان ورسوي او یا هم آخر په صحراء کې د ارغنداب د غرونو له لارې خاکرېز ته ځانونه وباسي، په دې سیمه کې د دوه مخامخ غونډیو پر سر دوه پوستې وې او د دواړو پوستو ترمنځ شاوخوا پنځه سوه متره واټن و، مولوي محمدایوب منیر خپلو ملګرو ته امر وکړ چې لس لس تنه له خپلو موټرسیکلونو سره د همدې پوستو ترمنځ ځانونه وباسي خو موټر سیکلونه به یې بند وي، یو به یې ټېله کوي او بل به یې نیسي ترڅو دښمن پام ورته نه شي. په همدې ډول له مازیګر تر سهاره یې په نیمه شپه کې درې نیم سوه مجاهدین له دې سیمې ووېستل، سهار دښمن وپوهېدی چې له دې لارې وځي نو یې پیاده حمله وکړه او په دې مخامخ جګړه کې د دوی لسګونه عسکر ووژل شول، ډېری مجاهدین هم شهیدان شول خو د همدې خط په منځ کې مجاهدینو ته د وتلو لار هم پیدا شوله.

کله چې ملګري د ارغنداب غرونو ته د خاکرېز په لوري ووتل، د صحراء ۳ درې وې چې یوه یې تنګړی، بله یې بې سري او بله د پېښی دره ده، د تنګړي دره کې دښمن چاپه اچولې وه د هغوی په لاس کې وه، مولوي محمد ایوب منیر تقبله الله د خپلو څو مجاهدینو ملګرو سره د بې سري درې ته ځان رسولی و، غوښتل یې چې له همدې لارې خپلو مجاهدینو سره ووځي خو دا د الله تعالی سترې بنده د ۶ میاشتو څخه زیاتې جګړې وروسته په داسې حالت کې د دوی د ډرون برید ښکار شو چې ډېرې ورځې یې په همدې جهادي ډګر کې په لوږه او تنده تېرې کړې وې، ډرون حمله پرې وکړه او په همدې ځای کې یې شهید کړ. تقبله الله د همدې تاریخي غزا پر مهال د اسلامي امارت د سیاسي دفتر مذاکراتي ټیم په قطر کې له امریکایانو سره د افغانستان په برخلیک چنې وهلې، د منیر تقبله الله ورور الحاج ملاشیرین اخند په خپل اطاق کې و چې دروازه یې وټکېدله، کله چې یې دروازه پرانستله نو د امریکا د مذاکراتي ټیم مشر

پاتې برخه (۵۵ ص)

# د یو آزاد هیواد یوه خپلواکه اردو

**محمد آغا (حیدري)**

د یو ازاد هیواد یوه خپلواکه اردو د ملي اسلامي اردو زړور او با شهامته شازلمیان د عقیدوي زده کړو ترڅنګ د هیواد پالنې په پیاوړې ملي روحیې، پوځي اخلاقو سمبال او په پوره جګړه ایز چمتووالي، رښتنولۍ او ژمنتیا سره خپلې ورسپارل شوې دندې په هوډمنه توګه سر ته رسوي.

دوی د هیواد سرښندونکي او اتل بچیان چې د ملي اسلامي اردو په لیکو کې د خدمت ستر ویاړ لري د پوځي او مسلکي زده کړو له لارې نور هم خپلې فني، مسلکي او تخصصي زده کړې لا پیاوړې کوي دغه اتل شازلمیان په پوره زړورتیا او شجاعت سره د اسلام او هیواد پالنې لپاره د هیواد په هره لوړه او ژوره کې د امنیت د لا ټینګښت په موخه شپه او ورځ د خپلو دندو ترڅنګ نه ستړې کیدونکو هڅو ته ادامه ورکوي چې د خپلو امیرانو په اطاعت او هر ډول شرعي امر منل په یخنۍ او ګرمۍ کې تر سره کېدل یې څو ځانګړې بیلګې دي.

د تېرو دوه لسیزو فتوحاتو، بریاوو او تجربو دا وښودله چې د ملي اسلامي اردو زړور سپاهیان د اسلامي ارزښتونو تر څنګ ملي ګټو او هر ډول مادي او معنوي ملي ارزښتونو ساتندویان او د دې ویاړلي لارې سرښندونکي او حماسه جوړونکي قوي ځواک دی.

دغه ځواکونه د ګران هیواد په ګوټ ګوټ کې د هیوادوالو د هوسا ژوند لپاره په خدمت بوخت دي او ویاړي چې د خپل ګران هیواد ملي حاکمیت، ځمکنۍ بشپړتیا او سرحداتو څخه په کلکه دفاع او د خپل ولس خدمت کوي.

دغه استشهادي شازلمیان دا خدمت او سرښندنه خپله اسلامي او ملي وجیبه بولي او د دغې وجیبې د ښې اداینې په پار پخپله دغه دریځ کې رښتیني دي، چې له همدې امله د هیوادوالو په زړونو کې ځانګړی ځای لري. لکه څنګه مو چې مخکې یادونه وکړه ملي اسلامي اردو د جوړښت او پیاوړتیا په برخه کې زده کړې او تشکیلات ټول پخپل وار ځانته جوړونکی ارزښت لري، چې دغه زده کړې باید د یو اساسي رکن په توګه په پام کې وي او د دغه رکن له مخې خپلې زده کړې مخ ته یوسي. زموږ د ملي اسلامي اردو ځواکونو په پوره ژمنتیا، صداقت او مسلکي روزنې سره د اسلامي او ملي ارزښتونو تر څنګ د هیواد له سرحداتو، ملي حاکمیت او ځمکنۍ بشپړتیا څخه په کامل ډول دفاع کوي. دا منظم او با دسپلینه ځواکونه زموږ د هیواد هغه روزل شوي شازلمیان دي چې په هر ډول سختو شرایطو کې به د هیوادوالو ارمانونه پوره کوي او زموږ هغه هیلې چې په تېر څلویښت کلن انقلاب کې له څنډ او خنډ سره مخ وې یو ځل بیا را ژوندي کوي او زموږ سترګې به ورباندې یخوي اوس مهال مو په هیواد کې د ملي اسلامي اردو کدري او مسلکي ځوانان د ستونزو د تحلیل او د ځواکونو د سوق او اداري لپاره په ملي اسلامي روحیې روزل کیږي.

دغو ځواکونو په پوره پوځي چمتووالي سره خپل عظیم رسالت ترسره کړی او په هوډمنه توګه ادامه ورکوي.

دغه دفاعي او خپلواک ملي اسلامي ځواک د اسلامي او ملي بریاوو، د اشغال په وړاندې زموږ د مشرانو د اتلولیو او ویاړونو د ساتنې پوره تضمین کوي هیڅچا ته به اجازه نه ورکړي چې زموږ ځمکنۍ بشپړتیا ته چپ کاته وکړي او تل هڅه کوي چې د هیوادوالو په خولو باندې د تل لپاره مسکا راولي. ښوونه او روزنه چې د زده کړو د بېلابېلو پروسو څخه عبارت دی په نظري او عملي ډول د ملي اسلامي اردو منسوبین په بېلابېلو کټګوریو کې مخته وړل کیږي چې د دوی د پوهې کچه لوړه او د جګړه ایز چمتووالي اساسي بنسټ ګڼل کیږي له همدې امله د ملي اسلامي اردو ننګیالیو شازلمیانو ته د ظرفیتونو او مسلکي وړتیاوو د لوړولو په موخه د عقیدوي روزنې ترڅنګ پوځي روزنه... پاتې برخه (۵۵ ص)

# اسلامي نظام او زموږ مسؤلیت

**لیکوال: باهر حقپال**

سریزه

دا بدیهي او بیخي ښکاره خبره ده چې ټولنیز ژوند کې نظم او نسق د انسانیت په لومړیتوبونو کې لومړی مقام لري، چې په نفي او محوه کېدو سره یې انسانیت حیوانیت او وحشیت ته سوق کیږي او وحشي چور چپاول او دربدری په اتومات ډول را منځ ته کیږي؛ چې کټ مټ د انسانیت د محوه کولو په معنا تمامیږي. د دې لپاره چې انساني فردي او ټولنیز ژوند مو هوسا او مرتب و اوسي دا شرعي وجیبه او اسلامي غوښتنه ده، چې یو محکم اسلامي نظام په واک کې ولرو، ترڅو یې له سایې لاندې خلک له ځاني او مالي خوندیتوب سره سره وکولای شي د خدای (ﷻ) د اوامرو امتثال او له نواهیو امتناع ترسره کړي. لله الحمد سترښتن تعالی زموږ پر هیواد او هیوادوالو دا ارزښتمنه او بې جوړې لورونه لورولې ده چې موږ یې پر سپیڅلي نعمت (اسلامي نظام) نازولي یو. دلته تر توان هڅه کوو د دې ستر نعمت د شکریه په ډول د (اسلامي نظام او زموږ مسؤلیت) له سرلیک لاندې څو ګوډې ماتې کرښې درته وکاږو، هیله ده په ګډه دا مزل تر منزله ورسوو او په دې لارې کې د قلم سوکې لا کښاندې او ځپاندې وساتو.

**د اسلامي نظام او واکدارانو اطاعت**

دا شرعي قطعي حکم دی چې اسلامي حکومت ته غاړه کیښودل او د مسلمانو واکدارانو اطاعت کول واجب دي. په دې اړوند ګڼ دلائل شته، موږ دلته یوازې په یوه آیت اکتفاء کوو. الله (ﷻ) د سورت نساء په (۵۹)آیت کې فرمایي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ وَأُوْلِي ٱلۡأَمۡرِ مِنكُمۡ (سُورَةُ النِّسَاء :۵۹)

ژباړه: اې مومنانو! د الله، رسول او هغو کسانو اطاعت وکړئ چې ستاسې څخه د امر خاوندان وي. (ځیني مفسیرینو (اولی الامر) په حاکمانو، واکدارانو او ځینیو نور بیا په اهل شورا تفسیر کړی)

البته، د واکدارانو او عامو هیوادوالو ټولو لپاره اړینه ده چې پریکړه به یې د خدای جل جلاله له احکامو سره برابره او د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په طریق پوره وي. د همدې پورتني آیت په وروستی برخه کې الله (ﷻ) فرمایي:

فَإِن تَنَٰزَعۡتُمۡ فِي شَيۡءٖ فَرُدُّوهُ إِلَى ٱللَّهِ وَٱلرَّسُولِ إِن كُنتُمۡ تُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِۚ ذَٰلِكَ خَيۡرٞ وَأَحۡسَنُ تَأۡوِيلًا (سُورَةُ النِّسَاء :۵۹)

بیا که ستاسې تر منځ په کومه چاره کښې شخړه پیښه شي؛ نو هغه د الله (ﷻ) او رسول لوري ته وړاندې کړئ. که تاسې په رښتیا سره پر الله (ﷻ) او د اخرت په ورځ ایمان لرئ، همدا د کار یوه سمه طریقه ده او د عاقبت په اعتبار هم غوره ده.

که خدای مه کړه، د کوم حاکم او واکدار خبره او پریکړه له شریعت سره په ټکر کې وه، نو په ولس یې اطاعت واجب ندی او دا بیخي مهم ټکی دی، دې ټکي ته پام کولو کې د پولیس او ولس، د راعي او رعیت، د حاکم او محکوم او آن د غونډ انسانیت ګټه ده. رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمایي: «لاَ طَاعَةَ لِمَخْلُوقٍ فِي مَعْصِيَةِ الخَالِقِ» د الله (ﷻ )په نافرمانۍ کې د هیڅ مخلوق اطاعت نشته.

**اسلامي نظام زموږ لپاره ستره ازموینه ده**

دا الهي منشور او خدایي قانون دی چې څنګه رعیت وي هغسې یې راعي هم انتخابیږي، ترڅو یې په مټ تمامه ټولنه ازمایښت او بریالي له پاتیالیو څخه جلا کړل شي. الله (ﷻ) یې د سورة انعام په یو سل او پنځه شپیتم ایت کې فرمایي:

وَهُوَ ٱلَّذِي جَعَلَكُمۡ خَلَٰٓئِفَ ٱلۡأَرۡضِ وَرَفَعَ بَعۡضَكُمۡ فَوۡقَ بَعۡضٖ دَرَجَٰتٖ لِّيَبۡلُوَكُمۡ فِي مَآ ءَاتَىٰكُمۡۗ إِنَّ رَبَّكَ سَرِيعُ ٱلۡعِقَابِ وَإِنَّهُۥ لَغَفُورٞ رَّحِيمُۢ (سُورَةُ الأنعَام :۱۶۵)

ژباړه: هماغه ذات دی چې تاسې یې د مځکې خلیفه ګان وګرځولای او ستاسې څخه یې

ځینو ته ځینو نورو په مقابل کې ډیري لوړې درجې ورکړې، چې تاسې ته یې څه درکړیدي په هغه کې پر تاسې ازماېښت وکړي. پرته له شکه ستا رب په سزا ورکولو کې هم ډېر چټک دی او ډېر ښښونکی او پوره رحم کوونکی هم دی.

## د اسلامي نظام بقا او استحکام

د اسلامي نظام بقاء او استحکام د الله (ﷻ) د احکامو په تعمیل او د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) پر طریقو په مسیر کولو کې نغښتي. ترڅو چې راعیان، رعیت او په هیواد کې میشت خلک د الله (ﷻ) د حکمونو په تعمیل مستقیم پاتې شي، الله (ﷻ) یوازینی معبود ومني، حکمونو ته یې معتقد او ممتثل و اوسي، ښیګڼې ترسره او له بدیو را وګرځي، همدا د اسلامي نظام د بقاء او استحکام بنسټیز معیارونه دي.

چې کله هم یوه ټولنه یو رعیت دا الهي منشور عملي کړي، الله (ﷻ) یې هغوی ته داسې ځمکنی او یوازینی نه ماتیدونکی ځواک، بقاء او استحکام ببښي لکه څنګه یې چې ذي القرنین او د هغه قوم ته ببښلی.

وَيَسْـَٔلُونَكَ عَن ذِى ٱلْقَرْنَيْنِ قُلْ سَأَتْلُوا عَلَيْكُم مِّنْهُ ذِكْرًا. (سُورَةُ الکهف :۸۳)

ژباړه: او (اې محمد (صلی الله علیه وسلم) دوی ستا څخه د ذوالقرنین په اړه پوښتنه کوي. ورته ووایه: زه به د هغه یو څه حال تاسې ته واوروم.

إِنَّا مَكَّنَّا لَهُۥ فِى ٱلْأَرْضِ وَءَاتَيْنَٰهُ مِن كُلِّ شَىْءٍ سَبَبًا. (سُورَةُ الکهف :۸۴)

ژباړه: موږ هغه ته په ځمکه کې قدرت ورکړی و او هر ډول وسایل او اسباب مو وربښلي وو.

کټ مټ لکه یوسف علیه السلام چې د دښتې له ژور کوهي و ویستل شو او د مصر د زیرمو وکمن وګمارل شو، دغسې د الله (ﷻ) د حکومونو د تعمیل او د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د طریقو په لاره کې، الله (ﷻ) د هیچا ښیګڼه نه ضایع کوي.

وَكَذَٰلِكَ مَكَّنَّا لِيُوسُفَ فِى ٱلْأَرْضِ يَتَبَوَّأُ مِنْهَا حَيْثُ يَشَآءُ ۚ نُصِيبُ بِرَحْمَتِنَا مَن نَّشَآءُ ۖ وَلَا نُضِيعُ أَجْرَ ٱلْمُحْسِنِينَ. (سُورَةُ يُوسُف :۵۶)

ژباړه: په دې توګه موږ په هغه هیواد کې د یوسف علیه السلام لپاره د حاکمیت لاره هواره کړه. د هغه خوښه وه چې په هغه (هیواد) کې چې چیرې یې غوښتل ځان ته ځای جوړ کړي. زموږ چې چا ته خوښه شي خپل رحمت ور په برخه کوو، د ښو کسانو اجر موږ نه ضایع کوو.

## اسلامي نظام ته له وفادارۍ سره سره نورو ته د وفادارۍ دعوت ورکول هم اړین دي

له دې سره سره بریالي کسان یوازې د خپل ځان پر سمه ونې بسنه نه کوي، بلکې د ځان د سمون ترڅنګ به د بل د سمولو او اسلامي نظام ته د وفادار جوګه کولو لپاره د بریا دویم اصل (اصلاح) خپله شرعي او ملي دنده بولي او په مټ به یې خلک ښې لارې (د اسلامي نظام وفادارۍ) ته دعوت او له بدو (اسلامي نظام سره غدارۍ) څخه وېروي.

یا په بل تعبیر د انسان د بریا او د فلاح لپاره اساسي غبرګونې معیارونه (صلاح) او (اصلاح) ګڼل کیږي چې په تعمیل یې د الله جل جلاله لخوا ځان او ټولنه له هر ډول تاوان څخه د ژغورلو جوګه ګرځي. د خپلې عقیدې او د خپل عمل سمولو ته "صلاح" او د بل د عقیدې او عمل سمولو ته دعوتولو ته (اصلاح) ویل کیږي. همدا دوه ګونې معیارونه په هر ډول اسلامي ارزښتونو کې د معمول وړ او اړین بلل کیږي، بیا په ځانګړي ډول ریاستي کارونو او اسلامي نظامونو کې خو قدم په قدم اړتیا ورته لیدل کیږي او له پام غورځول یې آن سلامته ټولنه له ګړنګه غورځولی شي.

علماء نقل کوي چې د همدې د (صلاح او اصلاح) په اړه تقریبا دري سوه آیاتونه نازل شوي خو په بدلو عنوانونه، کله یې عنوان تبشیر او انذار وي، کله امربالمعروف او نهي عن المنکر وي، کله دعوت او... په ځانګړي توګه سورت العصر د همدې مضمون لپاره ځانګړی شوی. امام محمدبن ادریس شافعي (رحمه الله) به فرمایل: که د انسان د لارښوني لپاره یوازي سورت العصر نازل شوی وای هم د انسان د لارښوني لپاره به کافي وای.

مولانا اشرف علي تهانوي (رحمه الله) په خپل تفسیر بیان القران کې د سورت العصر په تفسیر کې وایي: الله (ﷻ) په زمانې له قسم کولو وروسته هر انسان تاواني بللی خو هغوی له دې تاوان څخه ژغورل شوي چې همدغه دوه معیارون (صلاح او اصلاح) یې په پام کې نیولي وي، چې د خپلې عقیدې سمولو ته په آمنوا او د خپل عمل سمولو ته په (وعملوا الصالحات) سره اشاره شوې، چې لنډ نوم یې (صلاح) دی او بل انسان ته د عقیدې د عمل سمولو ته دعوتول ...

پاتې برخه په (۵۳ ص)

# شخصیت امام قتیبه بن سعید بلخی / بغلانی

سنگرخیل

کشور عزیز ما افغانستان در نتیجهٔ عوامل مختلف، و بحران های متداوم نتوانسته است درعرصه اقتصادی، سیاسی و نظامی مانند برخی کشور های منطقه به رشد و تکامل مطلوب خود نایل آید، اما خوشبختانه از لحاظ علمی و داشتن شخصیت های متبحر و علمای برجسته در فنون وبخش های مختلف علم و معرفت از غنی ترین کشور ها به شمار رفته و میرود، که میتوان از امام قتیبه بن سعید بغلانی امام مشهور علم حدیث، واستاد امام بخاری و مسلم نام بُرد. امام قتیبه بن سعید بلخی و بغلانی یگانه شخصیتی است که نام اش بیشتر از نه صد و هفتاد و چهار بار در (صحیح بخاری) و (صحیح مسلم) تکرار شده است که به اتفاق تمام علمای امت اسلامی صحیح ترین کتاب بعد از (کتاب الله) یعنی قرآن کریم به شمار میرود. ضمناً امام قتیبه یکی از شخصیت های بزرگ کشور که بخاطر کسب علم و معرفت، وطن و زادگاه اصلی اش بلخ باستان را ترک و به کشور ها و مراکز علمی مختلف عصر خود سفر نمود، و در نتیجهٔ تلاش و کاوش های علمی اش توانست به صفت یك امام مطرح علم حدیث، عرض اندام نماید. آنچه از مطالعهٔ کتب سیر و تراجم برمی آید این است که خروج امام قتیبه از بلخ به اساس رغبت و رضامندی شخصی خودش نبوده بلکه بگونهٔ مجبور به ترک آن شده است. چنانچه موصوف این تبعید و یا سکونت اضطراری اش را در بغلان بر خلاف توقع و مطابق خواست قضاء و قدر دانسته در دو بیت از آن چنین تعبیر نموده است. "یعنی اگر آن قضاء الهی که تحققش امر حتمی است نمی بود، و نیز آن رزق و یا آب و دانهٔ که خوردن آن در تقدیر و ازل هر انسان ثبت شده است نمی بود جای هیچ انسانی همچو من در بغلان سرزمینیکه تنها مسافر باید از آنجا عبور کند نمی بود." عمده ترین وسیلهٔ فراگرفتن علم در قرن های اول، یعنی قرن صحابه و تابعین و تبع تابعین و قرون بعدی، حتی در عصر امروز هم همانا رحلت، و یا سفرهای علمی است که شیفتگان وعلاقمندان علم و معرفت بعد از فراگرفتن علوم و روایات قریه و روستای مربوطه شان به مناطق دیگری که مرکز تجمع اساتید و شیوخ حدیث و روایت باشد سفر میکنند. چنانچه حافظ ابن الصلاح عادت محدثین را در این زمینه بازگو نموده میفرماید: « وإذا فرغ من سماع العوالی والمهمات التی ببلده فلیرحل إلی غیره » یعنی محدث و یا روایت نویس زمانیکه از شنیدن و فراگرفتن روایات و احادیثی که با سند عالی روایت شده است فارغ گردد، بخاطر اخذ و فراگرفتن روایات دیگر باید به سرزمین دیگری سفر نماید.

با توجه به اهمیت رحلت و نقش عمدهٔ آن در غنامندی علم و معرفت عالم و یا محدثیکه به اساتید موجود در قریه و روستایش اکتفا میکرد، و جهت فراگرفتن علم و روایات بیشتر به مناطق و کشور های دیگر سفر نمیکرد شخصیت علمی اش زیر سوال می رفت و مردم در مورد علم و اندوخته های علمی اش با دیدهٔ شک و تردید می نگرستند، عمده ترین وسیلهٔ فراگرفتن علم در قرن های اول، یعنی قرن صحابه و تابعین و تبع تابعین و قرون بعدی، حتی در عصر امروز هم همانا رحلت، و یا سفر های علمی است که شیفتگان و علاقمندان علم و معرفت بعد از فراگرفتن علوم و روایات قریه و روستای مربوطه شان به مناطق دیگری که مرکز تجمع اساتید و شیوخ حدیث و روایت باشد سفر میکنند. هدف عمده و اساسی رحلات علمی که بخاطر تحصیل حدیث صورت میگیرد دو چیز است اول، نائل شدن به سند عالی تر و سماع قدیم تر که یکی از خواستهای عمدهٔ محدثین در گذشته بوده است و دوم، ملاقات و دیدار با حفاظ حدیث، و انجام دادن مذاکره های علمی، و استفادهٔ بیشتر از داشته ها و محفوظات ایشان.

با توجه به اهمیت رحلات علمی و اهداف نهفته در آن امام قتیبه، زمانی که بیست و سه ساله شد بخاطر فراگرفتن علم حدیث، و افزودن اندوخته های علمی و استفادهٔ بیشتر از شیوخ حدیث، و ملاقات و دیدار با ایشان رحلات و یا سفر های علمی اش را به طرف عراق، مدینهٔ منورة، مکهٔ مکرمة، شام، و مصر سفر نمود، و از بغداد هم بازدید به عمل آورد، و در آنجا علاوه بر کسب و حصول روایت در مسند تدریس

حدیث نشست، و مرجع علمی دیگران قرار گرفت. طوریکه همزمان با شنیدن ورود وی به بغداد محدثین آن دیار بطرف وی شتافتند تا از داشته ها و اندوخته های علمی اش مستفید شوند.

امام قتیبه بخاطر طلب علم رحلت نمود، و روایات زیادی را که قابل وصف و یا ذکر نیست در قید تحریر در آورد. و این رحلت وی در سال ۱۷۲ قمری آغاز شد در کتاب تذکرة الحفاظ از امام قتیبة یک محدث ثقة و با اعتماد، عالم بزرگ، و صاحب حدیث یعنی متخصص در حدیث و صاحب رحلات نام برده شده است.

امام قتیبه بن سعید بغلانی رحمة الله علیه بعد از اینکه تمام عمر گرانبهایش را در طلب و روایت حدیث پیامبر اکرم (ﷺ) که بعد از قرآن کریم دومین مصدر و منبع اساسی دین مقدس اسلام، و شریعت اسلامی به شمار میرود سپری نمود، و شاگردان ممتازی را امثال امام بخاری، مسلم بن حجاج نیشاپوری، أبوداود سجستانی، أبوعیسی ترمذی، امام نسائی که کتاب های ایشان بعد از قرآن کریم بزرگترین منبع علمی و فکری و دستور عملی مسلمانان به شمار میرود، و امثال ایشان صدها افراد دیگری را به جامعه اسلامی تقدیم نمود، بعد از همهٔ این جهاد و مجاهدت، تعلیم و تدریس، بالآخره به عمر نود و یا نود ویک سالگی در ماه شعبان سال ۲۴۰ هجری قمری در ولایت بغلان افغانستان داعی اجل را لبیک گفته به حق پیوست و در همانجا دفن گردید.

از آنچه که پیرامون زندگی، و شخصیت علمی و تاریخی امام قتیبه بن سعید بغلانی گفته شد، چنین استنباط میگردد که یکی جناب ایشان، از محدثین بزرگ قرن سوم هجری به شمار میرفت که در سال ۱۴۹ و یا ۱۵۰ هجری تولد، و در سال ۲۴۰ هجری قمری به عمر نود و یا نود و یک سالگی، در ولایت بغلان که در آن زمان یکی از روستا های بلخ به شمار میرفت، وفات یافت. ضمناً در کنار اینکه شرف شاگردی امامان مشهور علم حدیث امثال امام مالک بن انس، لیث بن سعد، حماد بن زید وغیره را کسب کرد هم چنین در عصر خود به صفت یکی از استادان برجستهٔ حدیث تبارز کرد که نمونهٔ عمدهٔ آن را میتوان در شاگردی امامان و مصنفین مشهور حدیث باز یافت. علاوتاً یکی از عواملی که در نبوغ شخصیت علمی امام قتیبة نقش عمده و بسیار سازنده داشت همانا رحلات و یا سفر های علمی او بود که بخاطر فرا گرفتن حدیث روایات عالی و ملاقات با حفاظ حدیث به طرف شهر ها و مراکز علمي مختلف سفر نموده، و لقب جوال و یا متجول بودن را کسب نمود. در نتیجهٔ رحلات و سفر های متعدد خود روایات و احادیث زیادی را به دست آورد. یعنی امام قتیبه به اندازهٔ تحریر حدیث نمود که بیرون از ساحهٔ حصر و وصف است.

اما بطور دقیق تشخیص تعداد روایاتش شاید خیلی مشکل باشد ولی بازهم می بینیم که بعضی سیرت نگاران محقق پرتلاش در جریان یک واقعه تعداد روایات و مسموعات امام قتیبة را صد هزار حدیث و اثر نشان داده اند.

---

د ۴۳ مخ پاتې برخه...

چې په هر ډول انقلابي، جهادي او پريکړو او سياستونو کې زموږ سره مرسته وکړي.

او که زموږ قيادت يا ولسونه د سستي او غفلت مظاهره وکړي، سترپيا احساس کړي، ځان بې مسئوليته وګني؛ نو موږ به يوازې د تاريخ ښاغلي يو. او د وخت په تر ټولو مقدس او مبارک دين کې به مو، چې اسلامي رسانس دی، هيڅ برخه نه وي. او نړۍ به مو په يوه ناکام او بايللي ملت پيژني.

که موږ خپله دعوه ثابته نکړو، خپل اهداف په خپلواک او مستقل شکل ترلاسه نکړو، نو بيا به تاريخ زموږ وياړونه، قرباني او جهاد زموږ ديني عقيدې او روحيې، ملي استقلال غوښتنې ته نه منسوبوي؛ بلکې موږ به د سيمې د «سترې لوبې» د لوبغاړو د لاس آلې ګڼي. موږ بايد په عملي شکل دا ثابته کړو چې موږ نه د انګليس نه د روس نه امريکا لاسپوځي و. موږ يو خپلواک ملت و او يو.

نو ديني نظريه، د استقلال او نه مصلحت او نه تسليمي مزاج موږ ته په ټوله نړۍ کې په ځانګړې ډول اسلامي نړۍ کې خاص ځای راکوي. او همدا زموږ او اسلامي ملتونو د قدرت اصلي راز او سرچينه ده.



# د افغانستان اسلامي امارت د يووالي سمبول

مولوي احسان الله (ثاني)

د افغانستان اسلامي امارت له هغه ملي يووالي ورورولۍ څخه عبارت دی چې په نړۍ کې مثال نلري، له دې ښکولي او زرينې جملې لاندې چې د ستورو کومه قافله روانه ده ټولې وګړي يې د خوږو ورونو غوندې يو تر بل جاربږي، مينه، محبت، متقابل احترام، همدردي او خواخوږي د دې وګړو ځانګړ تياوې دي،

د (افغانستان اسلامي امارت) د سپېڅلي مسير لارويان پرون ټول په يوه سنګر کې د يوه امير تر قيادت لاندې د يوه مرام لپاره خورا په مېړانه، شجاعت، غيرت او شهامت وجنګېدل، چې موخې يې د الله (ﷻ) د کليمې لوړتيا، د اسلامي نظام قيام، د ګران هيواد استقلال، د غربي اشغال خاتمه، د خپل اولس خوشالي او سوکالي وه، نن چې د لايزال رب (ج) د ځانګړي نصرت، د بې شمېره شهيدانو، زخميانو، اسيرانو، کونډو او يتيمانو، د مېړنيو زلميو د ايثار او فداکارۍ، د غيور اولس د پوره حمايت په پايله کې خپل وروستي ارمان ته ورسېدل، د نړۍ زبر ځواکونه يې وشړل، د هغوی په لاس جوړه تش په نامه اداره يې نسکوره کړه، د ګران هيواد په ټوله جغرافيه يې خپله ولکه ټينګه کړه، نظامي چوکاټ ته داخل شول،

چې په ظاهره په ملي دفاع وزارت، کورنيو چارو وزارت، استخباراتي او کشفي ارګانونو، قضايي ارګانونو او بېلابېلو ادارو وه وېشل شول، خو په حقيقت کې ټول د يوه بڼ ګلان، يو يې ماليار او د وحدت په تار پېيلي داسې غميان دي چې هيڅکله به سره بېل نشي.

(ان شاء الله) لله الحمد د اسلامي امارت ټول سرتيري د خپل نظام، دين او وطن دښمنانو ته هم هغه سې محکم په يوه سنګر کې ناست دي، دوی کلک هوډ لري چې د ژوند تر پايه به، د خپل هغه نظام چې د معصومو وينو، بې سارې قربانيو په نتيجه کې لاس ته ورغلی له هره شره دفاع کوي، پر دوی د نړيوالو فشارونه، بنديزونه، تبليغات، کوم منفي اغيز نکوي، بلکې يوازې يې فکر پر خپل حقيقي مالک (الله تعالی جل جلاله) راټول دی، او د هغه احکامو ته متوجې دي، د اسلامي امارت مجاهدين هيڅ چاته اجازه نه ورکوي چې زموږ کړېدلي او دردېدلي ملت ته راغلی امنيت ګډوډ کړي، هر هغه چاته به د سر به کاسه کې اوبه ورکړي چې د ګرانو هيوادوالو د زورولو ناوړه اراده ولري،

---

د (۵۰ ص ) صفحې پاتې...

يې په (وتواصو بالحق) او د عمل سمولو ته دعوتول يې په (وتواصو بالصبر) سره بيان کړي دي. لنډه دا چې که غواړو پخپله هم او نور مسلمانان هم له دې ستر نعمت (اسلامي نظام) څخه بې برخې نه کړو؛ نو اړينه ده چې له خپل ځاني معتقدات سره سره نور هم د اسلامي نظام درنښت ته قائله او قانع کړو، ترڅو په ګډه د دې قدردان نعمت د خلکو په خدمت سره شکر اداء کړه. اسلامي نظام او زموږ هيواد

دا د اسلامي نظام له ګڼو برکتونو له ډلې څخه د مشت نمونه خروار په توګه دا برکت هم دی چې له پريمانه وحشتونه را تېر هيواد مو پرښتو ته ورته عسکريت لري. له تلاشۍ وړاندې مسنون سلام او له تلاشۍ وروسته له موسکا ډکه ښېښه غواړي. هم دا اسلامي نظام دی چې الهي منشور او د امير امر ته له هر ډول نفسي غوښتنو تېرېږو. د الله (ﷻ) پريمانه حمدونه دي چې په سرحداتو داسې استشهادي يوسف مخي زلوتي لرو چې د بد نيته دښمن هر رذالت يې په ميرانه خنثا کړی.

په پای کې يوه وړه غوښتنه

اسلامي نظام موږ او تاسي ته په پريمانه قربانيو او بې دريغه خواريو را کړل شوی دی. دا بې ساری نعمت خدای مه کړه له بې قدرۍ او ناشکرۍ مو له لاسه و نه وځي. د دې ستر نعمت شکر او قدر به دا وي چې په اړه يې هر ډول مرستې ته را ودانګو او له هېڅ راز هڅو او منډو ترړو دريغ و نکړو. هر فرد دې په خپل مسلک کې تحرک راولي او خپل مسؤليت دې ترسره کړئ، په ځانګړي ډول د تبليغاتي ډګر هغه مخکښ ملګري دې يو ځل بيا دا اغيزمن او ارزښتمن ډګر ښپاند او شوراند کړي. نظام لکه څنګه چې دفاعي، استخباراتي او بهرني مهارتونو ته اړتيا لري، کټ مټ تبليغاتي مهارتونو او کمالونو ته هم پوره اړتيا لري. راځئ د پخوا په څېر يو ځل بيا قلم ته لاس کړو او په دې ډګر کې د قلم د تور کرخو شرنګيدلي شرنګا يو ځل بيا په مستۍ راولو.

# سوم حوت مبنای شکست و زوال اتحاد جماهیر شوروی

**فرشاد ؛عیار؛**

سوم حوت یک روز مقدس و روز قیام علیه حکومت کمونیستی و غیر اسلامی آن زمان درج تاریخ افغانستان گردیده است. جایگاه سوم حوت در تاریخ جهاد مردم افغانستان بی بدیل محسوب میگردد. اولین شبی که قشون سرخ شوروی داخل خاک افغانستان گردید بعضی ها اذعان می کردند که افغانستان جزء از اقمار شوروی گردید (اردوی سرخ شوروی در هیچ مکان پا نگذاشته مگر اینکه پیروز و کامیاب گردیده است). تحلیل این بود که حرکت های که تا کنون در افغانستان برعلیه نظام وابسته به اتحاد جماهیر شوروی وجود داشته در اطراف افغانستان و در دهات و مربوط به مردمی بوده که آنها از نظر فرهنگی و پیشرفت های علمی عقب مانده است.

شهر های بزرگ کشور و به اصطلاح شخصیت های تحصیل کرده و تحلیل گران موضوعات سیاسی، با ورود قشون سرخ شوروی به این باور رسیده بودند که در برابر این قدرت دیگر تاب مقاومت نیست و همه باید تسلیم شوند و در نهایت حرکت های که در اطراف و دهات وجود دارد متوقف و نابود خواهد شد. اما در کمتر از سه ماه قیام سوم حوت مردم کابل نشان داد که تمام اقشار مردم افغانستان همه و همه مخالف حضور اتحاد جماهیر شوروی در افغانستان است و از حضور متجاوزانه آنها در افغانستان متنفر هستند و این اتحاد مردم افغانستان به دنیا ثابت کرد که یک ملت مسلمان، متحد و مجاهد در برابر قدرت اشغالگر ایستاده است.

قیام تاریخی سوم حوت تحلیل ها را معکوس کرد و بعد از آن، تحلیل ها این شد که اتحاد جماهیر شوروی اشتباه تاریخی را مرتکب شده است و در جایی گام نهاده است که استعمار انگلیس در سه جنگ در آنجا شکست فاحش را متقبل شده بود. در قیام سوم حوت و ادامه خیزش های مردمی و حس آزادی خواهی، بالاخره اتحاد جماهیر شوروی با پیشنهاد مذاکره، شکست خود در افغانستان را پذیرفت و بیان داشت که ما می‌خواهیم از افغانستان خارج شویم.

قیام سوم حوت و سر دادن نعرهٔ تکبیر (الله اکبر ) برای کشته شدن نبود بلکه مقدمهٔ برای جهاد و پیروزی بود. این قیام طوری تنظیم گردیده بود که در سوم حوت در سراسر افغانستان قیام ها با گفتن نعرهٔ تکبیر الله اکبر آغاز و به قوت های اشغال گر ضربه خورد کننده و نابود کننده وارد شود اما عدم امکانات و کمبود وسایل ارتباطی سبب گردید که مردم کابل به تنهایی این قیام را آغاز کنند و این بیانگر شهامت، تعهد و مردانگی مردم دلیر و سلحشور کابل می‌باشد که قوت های انگلیس را نیز این مردم شجاع در مرکز کابل به آتش کشیده بودند.

حکومت دست نشانده و روسها این قیام را تحمل کرده نتوانستند چون این یگانه قیام بدون سلاح و بدون تجهیزات نظامی با دست خالی و با احساسات پاک دینی و میهنی مردم بود که برای آنها بار گران و خار چشم گردید. آنها برای از گسترش و سرتاسری شدن این قیام عکس العمل شدید نشان دادند. در قیام سوم حوت صدها باشنده کابل کشته و یا زخمی شدند و افزون بر آن شمار زیادی آنان از سوی رژیم حاکم به عنوان بغاوت گر روانه زندان شدند که با گذشت بیش از چندین دهه از سرنوشت شان که در آن زمان از سوی حکومت زندانی شدند، خبری نیست. دقیقاً بعد از این واقعه، حکومت تجمع بیش از چهار نفر را ممنوع و قیود شبگردی (محدودیت گشت و گذار) را وضع نمود. گرفتاری دسته جمعی شروع شد و ادامه یافت. در پگاه آنروز، مردم به جاده ها ریختند و بر علیه اتحاد جماهیر شوروی تظاهرات کردند. در بعضی از مناطق، بر ساختمان های دولتی یورش بردند و اختیار بعضی از حوزه های پولیس را بدست گرفته و خود را مسلح کردند. گواهان برآنند که پولیس سلاح های شان را به مردم تسلیم دادند و با آنها یکجا شدند. سربازان اردوی وقت، از تیر اندازی بر مظاهره کنندگان خود داری کردند.

با آنکه قیام خود جوش مردم از سوی مزدوران داخلی و قوای اشغالگر بسیار سریع سرکوب شد اما نتایجی را هم به بار آورد. از یک سوی راهپیمایی های جدید علیه حکومت به وقوع پیوست و از سوی دیگر، در ۳ حوت، نهضت های اسلامی، زیر چتر جبهه مبارزین مجاهدین افغانستان برای برنامه ریزی و ادامهٔ این قیام هماهنگ شدند. این روز ( قیام سوم حوت) به دلیل زنده نگهداشتن یاد و خاطره این قیام و قربانیان آن سزاوار تحسین است. قیام سوم

حوت مبنای فروپاشی شوروی سابق گردید که پس از این قیام جنگ‌های وسیعی سرتاسر افغانستان را فرا گرفت، میلیون ها انسان کشته، معلول یا پناهنده شدند و چهارده سال بعد از این حادثه حکومت تحت حمایت شوروی در افغانستان شکست خورد، نظامیان شوروی افغانستان را ترک کردند و مدتی بعد اتحادیه جماهیر شوروی نیز تجزیه و در نتیجه جهاد مردم افغانستان از بین رفت. پیروزی جهاد مردم افغانستان باعث مستقل شدن و استقلال کشور های مختلفی در خاور میانه گردید.

برگرفته از برگه های تاریخ

---

د ۴۷ صفحې پاتې... ده ترې وپوښتل څنګه راغلي یاست؟ وېلې: ستاسې د پښتو د دود او فرهنګ له مخې ستا فاتحې او خواخوږۍ ته راغلي یو، دا چې ملا شیرین اخند تر دې مهاله د خپل ورور له شهادته خبر نه و، خو د هغوی په خبره وپوهېدی چې شاید له دې وروسته د خپل ورور سره په ژوند کې ونه ویني.

دوی له الحاج ملا شیرین اخند سره کېناستل، غوښتل یې د فاتحې په نامه د ده مورال او احساسات په رواني لحاظ وګوري، نو الحاج ملا شیرین اخند په ډېر همت او جرأت ورته وویل: موږ ټول د همداسې مېړني شهادت په ارمان او تلوسه کې یو، دا پېښې په لومړي ځل نه کېږي، بلکې دا شل کاله له همدې قربانیو سره مخ یو، خو دا ډول پېښې زموږ مورال نه شي ماتولی، زموږ همت او عزم ته ضربه نه شي ورکولی، موخې او هدف مو له افکارو نه شي وېستلی او نه هم په دې باندې دردیږو، بلکې دا د خان لپاره ویاړ او یو ارمان بولو چې الله تعالی د دوی په برخه کړی دی.

دا چې جګړه نږدې اووه میاشتې غځېدلې وه او ډېر وخت به مجاهدینو ته خواړه نه رسېدل نو ډېر وخت به مجاهدین د شهادت په تمه پاتېدل، کله چې له محاصرې را ووتل نو نقیب الله او یو شمېر نور مجاهدینو په خاوره کې الله تعالی ته په سجده پرېوتل، خولې یې له خاورو ډکې شوې او همداسې په څمکه پرېوتل، ملګرو ترې پوښتنه کوله چې ولې څه درباندې وشول؟ وېلې: موږ خو د لوږې او تندې څخه پر له پسې اووه ورځې کړېږو او د خوړو لپاره مو څه نه دي موندلي، د شهادت په تمه و خو شهادت مو هم په برخه نه شو، البته دا چې له سختې جګړې ژوندي راوتلي یو نو د الله تعالی شکر پرې باسو.

د افغانستان اسلامي امارت د بیا خلې حاکمیت لپاره همداسې تاریخي غزاګانې کړي، داسې اتلان یې په لار کې پرېښي چې د هغوی شهادتونو د امریکا او ناټو ټیکنالوجي ناکامه کړه، د نړیوالو سترې اسلحې او پرمختللې ټیکنالوجي د هغوی ارادې په وړاندې د خپلې ماتې اعتراف وکړ، مورال یې د جګړې په ډګر کې له لاسه ورکړی و او په سرټیټۍ یې د افغانستان خپلواکي ومنله.

په دې ډول موږ ویلی شو چې اسلامي امارت په یو وخت کې د جهاد او سیاست دواړه ډګرونه ګټلي دي، څکه چې په یو وخت کې یې هم مهاله دواړه ډګرونه پاللي وو.

د همدې اتلانو له لرۍ څخه نور بیا ...

---

د ۴۸ صفحې پاتې برخه... ورکول کیږي تر څو وکولای شي په هرډول حالاتو کې ورسپارل شوې دنده په بریالیتوب سره سرته ورسوي.

د ښوونې او روزنې دغه ارزښتناک رول ته په جدي پاملرنې سره باید د ښوونیز بهیر په برخه کې اوچت او اغیزمن ګامونه واخیستل شي، همدا رانګه په قطعاتو او جزوتامونو کې اړوند قرارګاوې، د ښوونې او روزنې استادان، د اپراسیون امرین دې برخې ته په کتنې سره د ملي دفاع وزارت مشرتابه د پالیسۍ او لارښونې په نظر کې نیولو سره کارونه او خپل مسؤلیت ادا کړي چې په دغه کار سره دې د زده کړو کچه لوړه او اړوند ورځنۍ چارې په ښه شکل تر سره کړي.

په همدې اساس ښوونه او روزنه په مرکزي، سیمیزو قطعاتو او جزوتامونو کې د جګړه ایز چمتووالي لپاره د لوړتیا او پرمختیا اساسي رکن جوړوي او د جګړه ایز تخنیک وسایلو، تجهیزاتو او لوازمو په درلودلو سره برخلیک ټاکونکی نقش لري.

زموږ خپلواکه ملي اسلامي اردو د هیواد له ټولو قومونو څخه جوړه ده دغه ځواکونه خلکو ته د ملي یوالي په پیاوړې روحیه خدمت کوي او له خپلو ارزښتونو څخه د سر په بیه دفاع کوي او د خپلو وینو په نذرانه کولو سره یې روښانه کړې ده چې هیڅ یو تیري ګر او اشغالګر ته دا اجازه نه ورکوي چې په سپېڅلې خاوره یې پلیت قدمونه کښېږدي او زموږ هیواد تر خپل اشغال لاندې راولي په کراتو کراتو یې یرغلګرو ته د هغوی دیرغل درس ورکړی، زموږ دغه زړور سپاهیان په یوه داسې عقیده او زده کړو روزل شوي دي چې د اسلامي شعایرو او ملي ګټو د خوندي تابه لپاره هر ډول خطر او تکلیف په ځان مني خو چاته دا اجازه نه ورکوي چې زموږ د مقدساتو سپکاوی او د ملي ارزښتونو د تخریب هڅې وکړي.

تل دې وي زموږ دفاعي ځواکونه.

# د ادب گلبڼ

## پیام های رمضانی

- رمضان ماه توبه کردن و گشودن درهای رحمت الهی است.
- رمضان ماه قیام و شب زنده داری، ما شکوهِ بندگی و اخلاص است.
- کسانی که از روی ایمان و احتساب در داشتن روزه ماه رمضان بیشتر سعی می نمایند، گناهان گذشتهِ شان بخشیده می شود.
- رمضان ماه صداقت جهاد و مبارزه با نفس سرکش است.
- رمضان فرصتی است که عباداله در اوج بندگی طلب عفو و بخشش نمایند.
- رمضان ماه جهاد و مبارزه با نفس سرکش است.
- روزه داشتن در ماه مبارک رمضان رمز و راز بندگی و اخلاص به درگاهِ حق تعالی سبحانهُ میباشد.
- رمضان ماه تقوأ و راهِ سعادت و خوشبختی امت مسلمه میباشد.
- رمضان ماه صبر و شکیبایی در عبادت و ترک معاصی بوده حلاوت ایمان را بیشتر می سازد.
- هر توانمندی می تواند با بذل مالش در راه خدا، نفس خویش را ترکیه، اخلاق و رفتارش را تهذیب نماید.
- از نعمتی که خداوند (ج) برای تان ارزانی داشته است، توشه ای برای آخرت بی اندوزید.

بامدادی که تفاوت نکند لیل ونهار      خوش بود دامن صحرا و تماشای بهار
این همه نقش عجب بر در دیوار وجود      هر که فکرت نکند نقش بود بر دیوار

حافظ

آمد نـــــوروز هم از بامداد      آمدنش فرخ و فرخنده باد
باز جهان خرم و خوب ایستاد      مرد زمستان و بهاران بزاد

منوچهری

نو بهار است در آن کوش که خوش دل باشی      که بسی گل بدمد باز و تو در گل باشی
در چمن هر ورقی دفتری حالی اســــت      حیف باشد که زکام همه غافل باشی

سعدی شیرازی

## لاهم شانس شته دی

چې اوښتې پرې پيړۍ او زمانې دي
اوس ئې پاتې تش په ژبو افسانې دي
په نميګړي دنياکی باندی مغروره
پوه به نشې پرې د ګوتو په شمار شپې دي
په هغو چې نيازيدې وګوره څه شول
خړې خاورې او اغزي ئې نشاني دي
د خالق قدرتونو سوچ کې ډوب شه
هرې خوا دې د عبرت ډکې نسخې دي
سردې ښکته کړه الله ته په دنيا کې
د توبې په مخ لا خلاصي دروازې دي
وخت تر وخته درنه تير نشي جليله
د لاسونو مروړل وروسته بې فايدې دي

## نن سبا

په ښکاره د انسانانو قتل عام دی
دا جايز ده کوم کتاب او په کوم دين کې
عزرائيل کوته په خوله شو ژوندانه ته
د دې وخت د قاتلانو په ناورين کې
انتقام د بت خانو اخلی کعبې نه
بد مستان شوي په قهر آتشين کې
هيچ تيری به بی ګوزاره پاتې نشي
دا دې ياد ساتي : خپل ذهن او يقين کې
چې زياتی کړی په نورو چا جليله
نن پخپله را پريوتي په کمين کی

وزير محمد جليل




**د ملي دفاع وزارت او ستر درستیز د رهبري لیدنې او سفرونه**

په دې کتنه کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د اړیکو په پیاوړتیا او په مختلفو برخو کې پرمختګ بحث وشو. د قطر امیر افغانستان یو دوست او ورور هېواد وباله او د ښه نیت ښودنه یې وکړه .

د افغانستان اسلامي امارت د ملي دفاع وزیر مولوي محمد یعقوب مجاهد د قطر له همکاریو مننه وکړه او له خپلې خوایې د اړیکو د پراختیا ډاډ ورکړ.همدا راز یې د افغانستان په ازادۍ او د اشغالګرو ځواکونو په ایستلو کې دقطر هېواد له کوربتوب او ښه مینځګړیتوب څخه یې یوځل بیا مننه وکړه.

د افغانستان اسلامي امارت د ملي دفاع وزارت وزیر مولوي محمد یعقوب (مجاهد) او د وسلوال پوځ لوی درستیز قاري محمد فصیح الدین (فطرت) د قطر هېواد له دفاع وزیر دکتور خالد بن محمد (العطیه) سره لیدنه تر سره کړه. یاد ملاقات کې د دوه اړخیزو اړیکو او د تعلقاتو د لا پیاوړتیا په هکله خبرې تر سره شوې. په دې مجلس کې د دواړه هېوادونو لوړ رتبه مسؤولینو ګډون هم کړی وو.

همدا راز د ملي دفاع وزارت سرپرست وزیر مولوي محمد یعقوب مجاهد او د وسلوال پوځ لوی درستیز قاري محمد فصیح الدین (فطرت) د قطر هیواد له لوړ پوړیو چارواکو او دفاع وزیر له لیدنې وروسته. د وسلو په (دفاعي نندارتون) کې چې د مختلفو نړیوالو شرکتونو لخوا جوړ شوی وو، لیدنه وکړه. د ملي دفاع وزارت سرپرست وزیر او ورسره ملي پلاوي په یاد نندارتون کې له بېلابېل ډول وسلو څخه هم لیدنه وکړه.

---

مولوی محمد یعقوب «مجاهد» سرپرست وزارت دفاع ملی، با آقای عبدالسلام «عزیزوف» رئیس استخبارات و سرحدات کشور ازبکستان و هیات همراهش روی مسایل سرحدی، تحکیم روابط دوجانبه، همکاری های اقتصادی و ترانزیتی و سایر موضوعات مورد نظر دیگر گفتگو نمودند.

در این دیدار سرپرست وزارت دفاع ملی، از تقویت و بهتر شدن روابط خوب بین دو کشور همسایه و مسلمان، یاد آوری نموده گفت:

(ما طی سال گذشته کار های زیادی را در سرحدات کشور انجام دادیم و مصمم هستیم در آینده نیز کار های بیشتری را برای استحکام سرحدات کشور انجام دهیم.)

همچنان سرپرست وزارت دفاع ملی، به جانب ازبکستانی اطمینان داد که نیروهای دفاعی و امنیتی امارت اسلامی، آماده هر نوع همکاری در خصوص تطبیق پروژه های انکشافی و سرمایه گذاری و سایر بخش ها با کشور ها هستند.

همچنان جانب ازبکستانی از تقویت روابط با امارت اسلامی و ادامه همکاری های شان در بخش های مختلف به مردم افغانستان اطمینان دادند.

په کابل کې د افغانستان د سیمه ایز نوښت د لومړۍ غونډې له بریالیتوب وروسته؛ د افغانستان لپاره د هند، چین، ایران، پاکستان، ترکیې، قزاقستان، ازبکستان، اندونیزیا، قرغیزستان او ترکمنستان هېوادونو ځانګړو استازو او سفیرانو د ملي دفاع وزارت د سرپرست وزیر مولوي محمد یعقوب "مجاهد" له لوري په جوړې شوې مېلمستیا کې ګډون وکړ.
چې وروسته د ملي دفاع وزارت سرپرست د چین، ایران او پاکستان له استازو سره جلا غونډه هم وکړه، د هېواد د ثبات او د پولو د امنیت د تامین، له هېوادونو سره د متقابل احترام او اقتصادي همکاریو پر بنسټ د دوستانه اړیکو د ټینګښت په برخه کې د اسلامي امارت له لوري ډاډ ورکړ او زیاته یې کړه: (اسلامي امارت چمتو دی، چې د پروژو د پیل او بشپړولو لپاره د امنیت او نورو هر ډول همکارۍ تضمین وکړي.)

---

مولوی محمد یعقوب "مجاهد" سرپرست وزارت دفاع ملی، به قوماندانی عمومی قوای هوایی کشور رفته و با مسؤلان، منسوبین،  پیلوتان، انجیران و تخنیکران مسلکی و سایر مجاهدین این قوماندانی دیدار نمود.
سرپرست وزارت دفاع ملی، طی سخنانی خطاب به حاضرین گفت: " درست است که ما مشکلاتی داریم، اما قوای هوایی مان توانایی دفاع از حریم خود را دارند و آنان نیز بیشتر از هر زمانی تقویت خواهند شد".
در ادامه سرپرست وزارت دفاع ملی از تلاش های شبانه روزی مسؤلان، منسوبین، انجیران، پیلوتان و تخنیکران مسلکی قوای هوای کشور سپاسگزاری نموده و برای حل و رسیدگی به مشکلات آنان اطمینان سپرد.

---

د ملي دفاع وزارت د تعلیماتو او پرسونل معینیت اړوند حضرت ابو عبیده بن جراح ملي دفاع پوهنتون د حضرت معاذ ابن جبل ملي پوځي اکاډمۍ له پنځلسمې دورې څخه ۲۳۵ تنه محصلین د یولړ ځانګړو مراسمو په ترڅ کې فارغ شول.
په  یاد غونډه کې د ملي دفاع وزارت سرپرست وزیر مولوي محمد یعقوب مجاهد او د افغانستان اسلامي امارت د کابینې یو شمیر غړو، مسؤلینو، مشرانو او مجاهدینو ګډون کړی وو.
د ملي دفاع وزارت سرپرست وزیر مولوي محمد یعقوب "مجاهد" د وینا په مهال محصلینو ته سپارښتنه وکړه: چې تاسو د دې خاورې بچیان یاست او دې خاورې ته به خدمت کوئ او د اسلامي او ملي ارزښتونو ترڅنګ به سرحداتو ساتنه کوئ، تاسو ته ملت امیدونه لري او د ملت شتمني په تاسو مصرف شوې، باید خپل مسؤلیت په ښه اخلاص ترسره کړئ؛ قومي، نژادي او سمتي تبعیض څخه ځانونه وساتئ.
همدا راز د بهرنیو چارو وزارت سیاسي مرستیال الحاج شیر محمد عباس "ستانکزي" د وینا په مهال وویل: لکه څنګه چې زموږ سلفو قرباني ورکړې، همدارنګه به موږ هم قرباني ورکوو، او خپل هیواد او خاورې ته به خدمت کوو، ملت باید راضي کړو، ترڅو زموږ ملت زموږ سره اوږه په اوږه ودرېږي.
همدا راز مسؤلینو زیاته کړه: دغه محصلین به په آینده کې د دغه هیواد او خاورې ساتنه کوي او محصلینو ته اوس مسؤلیت ورسپارل کېږي، باید خپل مسؤلیت ته متوجه شي. غونډه د ملي دفاع سرپرست وزیر مولوي محمد یعقوب "مجاهد" له لوري د ډیپلومو په ورکولو سره پای ته ورسېده.

---

الحاج مالی خان "صدیق" معاون اول ستر درستیز،  طی سفری به ولایت های پکتیا و خوست، ضمن دیدار با منسوبین از پوسته های خط فرضی دیورند  مستقر در ولسوالی های دند پتان پکتیا و زازی آریوب خوست بازدید به عمل آورد.
در این دید و بازدید ها معاون اول لوی درستیز،  برای حل پیشنهادات و مشکلات منسوبین نیز اطمینان داد.

**فراغتونه**

د ملي دفاع وزارت دبیلابیلو قطعاتو او سیمه ایزو او مرکزی قول اردوگانو ۱۹۹۶ تنه ځوان محصلین او منسوبین د حضرت معاذ ابن جبل ملي پوځي اکاډمی، دجگړه ایزو گډو زده کړو قوماندانی دجگړه ایز ملاتړ او جگړه ایزو تامیناتو ښوونځیو او له مسلکي کورسونو څخه د یو لړ مراسمو په ترڅ کې فارغ شول. په یادو مراسمو کې د اسلامي امارت د کابینې غړو، د ملي دفاع وزارت سرپرست، لوی درستیز، د اسلامي ملي اردو د قطعاتو او جزتامونو قوماندانان، د تحصیلي او تعلیمي موسسو او مراکزو مسؤلین، استاذان او د یادو ارگانونو یو شمېر مسؤلین او فارغان گډون درلود.

مسؤلینو له نویو فارغانو څخه وغوښتل چې په ترلاسه کړیو زده کړو بسنه ونکړي او همداسې په خپلو قطعاتو او جزوتامونو کې نور منسوبین به هم تشویق کړي چې مسلکي زده کړې ترلاسه کړي. ورته مهال فارغانو مسلکي زده کړې د اسلامي نظام د پیاوړتیا په موخه اړینې وبللې او مسؤلینو ته یې ډاډ ورکړ چې د سر او مال په بدل کې به له اسلامي نظام څخه دفاع او ساتنه کوي. په یادو مراسمو کې فارغانو ته د مسؤلینو له لورې د بری لیکونو په ورکولو سره پای ته ورسېدل.

**کمک و نجات**

نیروهای قوای هوایی در ولایت کندهار دو تن از هموطنان مان را که طی سه ساعت به داخل آب و سیلاب گیر افتاده بودند نجات و به زود ترین وقت به مرکز صحی ساحوی این ولایت انتقال داده شدند. خانواده های این هموطنان نجات یافته از مسؤلان نیروهای دفاعی کشور بابت همکاری های شان در هرگونه شرایط سخت تشکری نموده و از سلامتی آنان اطمینان سپردند.

د ۲۰۱ خالد بن ولید قول اردو د حضرت عبدالله بن زبیر لومړی سرحدي لوا له لوري د ننگرهار ولایت پچیرآگام ولسوالۍ اړوند د (۷) کورنیو (۵۰) تنه غړي چې د واورې د زیات اورښت له امله بند پاتې وو. د خپلو شته امکاناتو څخه په گټې اخیستنې سره وژغورل شول.

یادو کورنیو د ملي اسلامي اردو د دغه نېک او پر وخت اقدام ستاینه او قدرداني وکړه، چې دفاعي او امنیتي ځواکونه یې د ستونزو حل ته لومړیتوب ورکوي او تل د هیوادوالو په خدمت کې دي.

به اثر ریزش برف و لغزش کوه در قریه نکره دره تیتین ولسوالی نورگرام ولایت نورستان تعدادی از خانه های مسکونی تخریب که متاسفانه در این حادثه ۲۵ فرد ملکی شهید و دو تن زخمی گردیده اند .

مسئولین و منسوبین دلیر لوای چهارم عبدالله بن رواحه قول اردوی ۲۰۱ خالد بن ولید جهت نجات و کمک به آسیب دیده گان آن واحد به محل واقعه حاضر گردیده اند .

منسوبین دلیر اردوی ملی اسلامی شب و روز در خدمت هموطنان خویش بوده، برای زخمی های این حادثه طبیعی کمک های اولیه را انجام داده و در صدد نجات آنعده از هموطنان ما که در زیر برف گیر مانده بودند، اقدامات لازم را انجام دادند.

د ۲۰۳ منصوري قول اردو اړوند ځواکونو د غزني په ده یک ولسوالی د رامک په غرونو کې یو شمیر بند پاتې کوچیان وژغورل او مالونه یې د نظامي وسایطو په مرسته خپلو سیمو ته انتقال شول. دا په داسې حال کې ده چې ټولو امنیتي او دفاعي ځواکونو ته هدایت ورکړل شوی دی چې په هر ډول حالاتو کې د هیوادالو د ځان او مال ساتنه وکړي.

به اثر سعی و تلاش تیم نجات کندک سوم لوای پنجم سرحدی قول اردوی ۲۰۷ الفاروق در مربوطات ولسوالی های کهسان و اسلام قلعه ولایت هرات به تعداد ۵۲ تن از هموطنان که در اثر برف باری های شدید در برف گیر مانده بودند نجات داده شدند.

منسوبین اردوی اسلامی ملی بصورت شبانه روزی در خدمت هموطنان خود قرار دارند.

منسوبین قول اردوی ۲۱۷ عمری برای خانواده های نیازمند در ولسوالی های مختلف ولایات کندز، تخار و بغلان اجناس و مواد های لازم را کمک نمودند.این کمک ها شامل خیمه، کمپل، مواد خوراکی، حیوانی و سایر ضروریات لازم می باشد.
خانواده های آسیب دیده از این اقدام نیک و مؤثر نیروهای دفاعی شان در جهت اهدای کمک قدر دانی و تشکری نمودند.
منسوبین لوای دوم قول اردوی ۲۰۳ منصوری برای خانواده های نیازمند در ولسوالی های مختلف ولایت اجناس و مواد های لازم را کمک نمودند.این کمک ها خیمه، کمپل، مواد خوراکی حیوانی و سایر ضروریات لازم را شامل می باشد.
خانواده های آسیب دیده از این اقدام نیک و مؤثر نیروهای دفاعی و امنیتی شان در جهت اهدای کمک قدر دانی و تشکری نمودند.

د ۲۰۹ الفتح قول اردو د طبعي پيښو پروړاندي د مبارزې عاجلې کميټې له لوري د فارياب ولايت لري پرتو سيمو ته په ورښتونو کې د اغيزمنو هيوادوالو سره.د همکارۍ په موخه اووه عراده انټرنيشنل موټر چې د څارويو لپاره خوراکه پکې بار وو واستول شول.
چې له دې جملې شخه څلور عراده انټرنيشنل موټر د ترکمنستان سرحد ته او يو عراده استانه کوهستان، يوعراده قره قدوغ، او قطار جوه سيمو ته وليږل شول. د يادوني وړ ده چې د ۲۰۹ الفتح قول اردو د طبعي پيښو پروړاندي د مبارزې عاجلې کميټې فارياب، جوزجان، سرپل او بلخ ولايتونوکې تر دې مهاله په اورښتونو کې د اغيزمنو هيوادوالو د سر او مال د ژغورني لپاره خدمتونه تر سره شوي دي.

منسوبین لوای چهارم قول اردوی ۲۰۹ الفتح در ولایت سرپل به مردم در قسمت های مختلف مساعدت نمودند.
این کمک ها شامل گندم، جواری، علف برای مواشی و یک تعداد اقلام دیگر بود که توسط وسایط انترنشنل به ولایت سرپل انتقال و به افراد نیازمند توزیع شده و این پروسه ادامه دارد.
منسوبین وزارت دفاع ملی در همه حالات در کنار هموطنان خویش قرار داشته و در امر کمک رسانی با آنها از هیچ نوع سعی و تلاش دریغ نمی کنند.

**کشف و ضبط سلاح و مهمات**

د ۲۰۷ الفاروق قول اردو د کشفي او استخباراتي منسوبينو له لوري د يو لړ پراخو او دقيقو عملياتو په ترڅ کې د هرات ښار د ۱۱ مې ناحيې په مربوطاتو کې يو تن قاچاقبر سره ۲ ميله کلاشينکوف، ۲۷ قبضه تفنگچې او يو شمير نور مهمات نيول شوي دي.
نيول شوی کس د نورو تحقيقاتو لپاره اړوند ارگانونه ته سپارل شوی دی.
منسوبین دلیر کشف و استخبارات قول اردوی ۳۱۳ مرکزی طی راپور های کشفی یک مقدار مهمات مختلف النوع و اسلحه را از حوزه ششم ولایت کابل، کشف و ضبط نمودند.مهمات و اسلحه بدست آمده: ۲ میل کلاشینکوف، ۱۸ حلقه بم دستی، ۷ دانه پتاقی بم دستی، یک پایه مخابره آی کم، ۳ دانه پشنگ دودی و یک عدد شاجور کلاشینکوف با همرای ۳۰ فیر مرمی شامل می باشد.




چاپ مطبعه اردوی اسلامی ملی

MoDAfghanistan2 YouTube MoDAfghanistan1 MoDAfghanistan2